# DOCUMENT RESUME

ED 323 767 FL 018 818

| | |
|---|---|
| AUTHOR | Tegey, Habibullah; Robson, Barbara |
| TITLE | Beginning Pashto: Teachers' Manual. |
| INSTITUTION | Center for Applied Linguistics, Washington, D.C. |
| SPONS AGENCY | Center for International Education (ED), Washington, DC. |
| PUB DATE | 90 |
| CONTRACT | P017A-90055 |
| NOTE | 104p.; For other materials in the set, see FL 018 814-819. |
| PUB TYPE | Guides - Classroom Use - Guides (For Teachers) (052) |
| EDRS PRICE | MF01/PC05 Plus Postage. |
| DESCRIPTORS | Cues; Educational Resources; *Grammar; Instructional Materials; Language of Instruction; *Native Speakers; *Pashto; *Second Language Instruction; Second Language Learning; Teaching Guides; Uncommonly Taught Languages |


ABSTRACT

This teachers' manual is a component of "Beginning Pashto," a set of materials (including a textbook, student workbook, tapescripts, and a glossary) that teaches the Pashto language. The teacher's manual is written for the native speaker of Pashto who is educated but does not have a background in language teaching or an extensive background in Pashto grammar. The guide explains the presentation of grammar points and gives other information of use to the teacher. At the end of each unit, the prompts for the listening exercises in the workbook are given for the teacher's convenience. (GLR)



***********************************************************************
* Reproductions supplied by EDRS are the best that can be made *
* from the original document. *
***********************************************************************

ED323767

# ابتدائی پښتو

# Beginning Pashto

## د ښوونکی لارښود

## Teachers' Manual

*Habibullah Tegey*

*Barbara Robson*

Center for Applied Linguistics
Washington, D.C.

U.S. DEPARTMENT OF EDUCATION
Office of Educational Research and Improvement
EDUCATIONAL RESOURCES INFORMATION CENTER (ERIC)

☑ This document has been reproduced as received from the person or organization originating it.

☐ Minor changes have been made to improve reproduction quality.

• Points of view or opinions stated in this document do not necessarily represent official OERI position or policy.

"PERMISSION TO REPRODUCE THIS MATERIAL HAS BEEN GRANTED BY
G. R. Tucker

TO THE EDUCATIONAL RESOURCES INFORMATION CENTER (ERIC)."

FL018818

# ابتدائی پښتو

# Beginning Pashto

## د ښوونکی
## لارښود

## Teachers' Manual

Center for Applied Linguistics

# Beginning Pashto

## Overview

*Beginning Pashto* (ابتدائی پښتو) is a set of materials teaching the Pashto language. Each of the fourteen units provides about ten hours of class work, and therefore should be sufficient for two semesters of academic language training (three hours a week in class, with possibly two hours of lab or practice), or about five weeks in an intensive course (six hours a day in class, five days a week). The materials are designed to bring an English-speaking student to a 1+ or 2 on the ILR proficiency scale, or an Intermediate High or Advanced on the ACTFL proficiency scale.

The language taught the materials is Afghan Pashto, in particular the standard central dialect spoken in Kabul and used in the official media. The materials have been proof-read and field-tested by Kandahari Pashtuns; the words and phrases in them are familiar to speakers of the Kandahari dialect as well.

The Pashto writing system is taught in the first unit, and is used in the presentation of material from then on. In the first three units, material is also in a romanized transcription. After that, the transcription of a word or phrase is given only when the word or phrase is introduced, or when the point under discussion is pronunciation.

The materials consist of:

- Textbook (د درسی کتاب)
- Student Workbook (د درسی کتاب ضمیمه)
- Teachers' Manual (د ښوونکی لارښود)
- Pashto-English Glossary (لغت)
- Textbook Tapescript (د درسی کتاب د ټیپ متن)
- Workbook Tapescript (د درسی کتاب د ضمیمې متن)

As was mentioned before, the first unit in the <u>Textbook</u> teaches the Pashto writing system. The other thirteen units present the language via dialogues and readings on various topics (e.g. food, shopping, weather, family, etc.), with accompanying presentations on grammar and vocabulary, and exercises for oral practice and conversation. Each unit contains a Diversion - a proverb, poem or story - intended to amuse the student, and to provide him or her with a glimpse of Pashto folk literature.

The dialogues revolve around the activities of a group of Pashtuns and Americans at an American university, so that the American student is provided with language and

vocabulary of immediate usefulness. The readings for the most part describe Pashtun life and customs in Afghanistan, and are related to the topic in the corresponding dialogue.

The Workbook provides background information on Pashtun culture, discussion of grammar points, and information on individual vocabulary items. Each unit in the Workbook contains a number of exercises providing additional listening and writing practice on the points covered in the Textbook. The listening exercises require the student to listen to a prompt, then respond in some way; the prompts are not given in the Workbook exercises.

The Teachers' Manual, in Pashto, is written for the native speaker of Pashto who is educated but does not have a background in language teaching or an extensive background in Pashto grammar. It explains the presentation of grammar points, and gives other information of use to the teacher. At the end of each unit, the prompts for the listening exercises in the Workbook are given for the teacher's convenience.

The Glossary contains, in dictionary form, all the words taught in the materials. In addition to providing information on individual lexical items, it gives the student practice in using a list in Pashto alphabetical order.

The Text Tapescript and Workbook Tapescript have been developed for students of Pashto who do not have regular access to a native speaker of the language. They provide the means for such students to identify a Pashto speaker, then make arrangements with him or her to tape the important parts of the Textbook and the listening exercises in the Workbook. The tapescripts are not necessary in situations where there is a Pashto-speaking teacher.

All these materials are in the public domain, and copies may be made of them as needed. Each component is listed in the ERIC system with a separate number, and has been designed on the assumption that a single hard copy will be bought from ERIC, then copied and bound. Each component accordingly has a cover page, which should be copied onto heavy paper (a different color for each component makes it easier to identify). The title page and rest of the component can be copied as usual, then bound with the cover page and a back cover. We have found that comb-binding (available at most copy centers) is best, because it allows the "book" to lie flat. To facilitate copy-making, every page of the materials has been numbered and labelled in English, in headers like the following:

Beginning Pashto Unit 12: ملا يي زوبله ده Teachers' Manual 82

Each component of the materials has the following number of pages:

| | | | |
|---|---|---|---|
| Textbook: | 168 | Teachers' Manual: | 93 |
| Workbook: | 186 | Textbook Tapescript: | 119 |
| Glossary: | 40 | Workbook Tapescript: | 66 |

If you have any problems or questions about getting the materials, please contact ERIC/CLL, at the Center for Applied Linguistics in Washington, D.C. If you have any

questions about the content of the materials, please contact the authors: Barbara Robson at the Center for Applied Linguistics, or Habibullah Tegey in the Pashto Service, Voice of America, in Washington D.C.

These materials have been developed by the Center for Applied Linguistics with funding from Grant No. P017A 90055 from the International Research and Studies Program of the U. S. Department of Education. The same office has funded CAL to develop an additional fourteen units. These will be deposited in the ERIC collection under the general title *Intermediate Pashto*, and will be available in eary 1992.

# Table of Contents

Introduction ........................................ vi

Unit 1: اسلام علیکم

Section 1: Greetings and Goodbye Phrases ........................ 1
Section 2: Pashto Pronunciation ........................ 2
Section 3: The Pashto Alphabet ........................ 4
Section 4: Diversions ........................ 5
Workbook Exercises ........................ 6

Unit 2: نور چیري دی؟

Section 1: Dialogue ........................ 8
Section 2: Sentence Structure ........................ 9
Section 3: Reading ........................ 11
Section 4: Word Structure ........................ 12
Section 5: The Pashto Alphabet ........................ 13
Section 6: Diversions ........................ 14
Workbook Exercises ........................ 14

Unit 3: ته څه کارکوي؟

Section 1: Dialogue ........................ 17
Section 2: The Present Tense ........................ 18
Section 3: Reading ........................ 19
Section 4: Word Structure ........................ 20
Section 5: Diversions ........................ 21
Workbook Exercises ........................ 22

Unit 4: ورونه او خویندي

Section 1: Dialogue ........................ 24
Section 2: Numbers ........................ 25
Section 3: Weak Possessive Pronouns ........................ 26
Section 4: Reading ........................ 27
Section 5: Diversions ........................ 28
Workbook Exercises ........................ 28

Unit 5: هوا سخته توده ده.

Section 1: Dialogue ........................ 30
Section 2: Adjective Classes ........................ 31
Section 3: Reading ........................ 33
Section 4: Asking for Vocabulary ........................ 34

Section 5: Diversions ... 34
Workbook Exercises ... 35

Unit 6: شنبې څه کوی؟

Section 1: Dialogue ... 37
Section 2: Time Words and Phrases ... 38
Section 3: Reading ... 40
Section 4: Telling Time ... 40
Section 5: Diversions ... 41
Workbook Exercises ... 41

Unit 7: زه به آشك راوغوارم.

Section 1: Dialogue ... 44
Section 2: The Perfective Form of Simple Verbs ... 45
Section 3: Commands ... 46
Section 4: Future Expressions ... 47
Section 5: Reading ... 48
Section 6: Diversions ... 49
Workbook Exercises ... 49

Unit 8: په پله تېر شه.

Section 1: Dialogue ... 52
Section 2: Ordinal Numbers ... 53
Sections 3 and 4: Derivative Verbs ... 95
Section 5: Reading ... 56
Section 6: Diversions ... 57
Workbook Exercises ... 57

Unit 9: دالته کښېنه.

Section 1: Dialogue ... 58
Section 2: Doubly Irregular Verbs ... 59
Section 3: Future Expressions ... 60
Section 4: Reading ... 61
Section 5: Diversions ... 61
Workbook Exercises ... 62

Unit 10: اسد به مې بوزی.

Section 1: Dialogue ... 64
Section 2: Weak Pronouns ... 64
Sect.\`n 3: The Order of 'Floating' Particles in Sentences ... 67
Section 4: Reading ... 69

Section 5: Diversions .................... 69
Workbook Exercises .................... 70

Unit 11: قیمت يې څو دی؟

Section 1: Dialogue .................... 72
Section 2: Numbers Beyond Thirty .................... 72
Section 3: Summary of Strong Pronouns .................... 73
Section 4: Demonstratives .................... 74
Section 5: Reading .................... 75
Section 6: Diversions .................... 75
Workbook Exercises .................... 75

Unit 12: ملا يې ژوبله ده.

Section 1: Dialogue .................... 77
Section 2: Where Does It Hurt? .................... 77
Section 3: The Past Imperfective Form of 'be' .................... 78
Section 4: The Past Tense Forms of Verbs .................... 78
Section 5: Reading .................... 80
Section 6: Diversions .................... 80
Workbook Exercises .................... 81

Unit 13: په بازار کې دې څه کول؟

Section 1: Dialogue .................... 83
Section 2: The Pashto Past Perfective Tense .................... 83
Section 3: Using the Past Perfective Tense .................... 85
Section 4: Reading .................... 86
Section 5: Time Phrases .................... 87
Section 6: Diversions .................... 87
Workbook Exercises .................... 88

Unit 14: په کار پسې گرځېدلم.

Section 1: Dialogue .................... 90
Section 2: The Past Imperfective Tense .................... 90
Section 3: The Pashto Infinitive .................... 91
Section 4: Reading .................... 91
Section 5: The Afghan Calendar .................... 92
Section 6: Diversions .................... 92
Workbook Exercises .................... 92

## Introduction

This Teachers' Manual is one of the six components of *Beginning Pashto*. The other components are:

- Textbook
- Textbook Tapescript
- Pashto-English Glossary
- Workbook
- Workbook Tapescript

All the components of *Beginning Pashto* are available in microfiche or hard copy through the ERIC Document Reproduction Service.

## مقدمه

دا د «ښوونکی لارښود» د هغو درسی موادو یو ټوك دی چه د انگریزی ژبې ویونکو، په تېره بیا امریکایانو، ته د تدریس دپاره لیکل شوی دی. ددې موادو درې نور ټوکونه درسی کتاب (Textbook)، د درسی کتاب ضمیمه (Students' Workbook) او د «ټیپونو متن» ده. د «ښوونکی لارښود» له معلم سره د مرستې په غرض لیکل شوی دی. ددغو درسی موادو لیکوونکو داسې فرض کړې چه ښوونکی د ژبې د تدریس تجربه نه لری او ځکه نو ځینې داسې لارښودنې ورته شوی چه په دې باره کې مرسته ور سره وکړی. دلته ښوونکی ته د دیالوگونو، تمرینونو، قرائت او د درسی کتاب د ځینو نورو برخو د تدریس په باره کې په یو شمېر تخنیکی لارښوونو علاوه، یو لړ گرامری توضیحات هم ورکړل شوی دی. ددې تکی مطلب دادی چه ښوونکی د پښتو ژبې له عصری گرامری توضیحاتو سره چه په دغو درسی موادو کې استفاده ترې شوې پوره بلد شی او زده کوونکو ته یې تفهیم کړی.

البته دلته په گرامر باندې د گرامر په خاطر بحث نه دی شوی، بلکه په گرامر ددې دپاره او داسې بحث شوی چه شاگردانو سره د ژبې د زده کړې په لاره کې مرسته وکړی. مثلاً دلته کومې خبرې چه د ضعیفو ضمیرونو په باره کې شوی د هغو

مطلب شاګردانو ته ددې ټکي توضیح کول دی چه دغه ضمیرونه په جمله کې څنګه استعمالیږی.

د درسی کتاب عمده برخې دیالوګ، ګرامری توضیحات، قرائت او تمرینونه جوړوی. د درسی کتاب ضمیمه کې د شاګردانو د زیاترې استفادې په غرض د پښتو ژبې د ګرامری جوړښت او د پښتنو د اجتماعی خصوصیاتو او ثقافتی ژوند په باره کې تر درسی کتاب نه زیات توضیحات او تمرینونو نه ځای شوی دی. د «ټیپونو متن» کې هغه کلمات، عبارات او جملات راغلی چه کېدی شی د زده کوونکو د استفادې په غرض ټیپونه پرې ډك شی او په لابراتوار او یا صنف یا بل ځای کې استفاده ترې وشی. دا ټیپونه، خصوصاً، د شاګردانو د اوریدلو د مهارت له قوی کولو سره ډیره مرسته کولی شی.

په پای کې باید وویل شیو چه ددغو درسی موادو د لیکلو د پروژې مالی مصارف د امریکا د معارف وزارت د عرفانی مرستې له هغو پیسو ور کړی چه د حساب لمبر یې Grant No. P017A900551 دی. د تطبیقی ژبپوهنې مرکز دمعارف د وزارت له دغې مرستې نه د زړه له کومې مننه کوی.

# Unit 1: اسلام عليکم

## Section 1: Greeting and Goodbye Phrases
## لومړۍ برخه: روغبړ او خدای په امانی

ښوونکی دې لومړی دغه جملې خپله دوه درې وارې په لوړ غږ شاگردانو ته ووايي. بيا دې شاگردانو ته ووايي چه هغوی ټول يې له ده سره يو ځای په لوړ غږ ووايي. دا کار دې ښوونکی او زده‌کوونکی دوه درې وارې وکړي. بيا دې ښوونکی شاگردانو ته ووايي چه پښتانه د روغبړپه وخت کې د خبرو تر څنگه، معمولاً ځينې خاص حرکات هم کوی. مثلاً نارينه له يو بل سره لاس ورکوی او په غېږ هم روغبړ کوی. وروسته له دې توضيح نه دې يو نارينه شاگرد دټولگی مخې ته وروغواړي او هلته دې په غېږ روغبړ ور سره وکړي.
وروسته له دې، دې ښوونکی له زده کوونکونه وغواړی چه په لاس روغبړ او خدای په امانی ته دوام ورکړی او جملې دې په لوړ غږ وايي. د لاس په روغبړ او خدای په امانی کې ښځې او نارينه دواړه برخه اخستلی شي. د هر شاگرد تلفظ چه بيخی خراب وی ښوونکی دې يې ورته تصحيح کوی. اما دا ضرور نه ده چه په اوله ورځ د شاگردانو تلفظ بيخی صحيح او کامل شي. مگر داسې دې هم نه کېږی چه د شاگردانو تلفظ په ورځو ورځو خراب پاتې شی او په پای کې له غلط تلفظ سره عادت پېدا کړی. ښوونکی دې په پای کې شاگردانو ته دا هم ووايي چه دغه جملې د جملو حيث زده کړی او د کلماتو په جلا جلا معنا پسې دې نه گرځی.

## Section 2: Pashto Pronunciation
## دوهمه برخه: پښتو تلفظ

ښوونکی دې لومړی هر واول او کانسوننټ په جلا ډول شاګردانو
ته تلفظ کړی او بیا دې په مثالونو کې ورته ووایی. مثلاً لومړی
دې اول واول [a] ورته تلفظ کړی او بیا دې ورته ووایی چه
د "تلفظ" په کلمه کې اول او دوهم واول [a] دی او د "ده" په کلمه
کې وروستی واول [a] دی. په دې پسې دې معلم ټول واولونه او
کانسوننټونه په ترتیب هم په جلا ډول او هم په مربوطو مثالونو
کې په لوړ غږ ووایی. په دې ترځ کې هم ښوونکی او زده کوونکو
ته دا څرګندیږی چه شاګردانو ته د کومو حروفو تلفظ اسان او د
د کومو ګران دی. کوم چه اسان دی په هغو دې ښوونکی ډیرسر
نه خوږوی بلکه ډیر زور دې د هغو په تلفظ واچوی چه شاګردانو
ته ګران دی. په دې پسې دې ښوونکی د هر "حرف" مربوط مثال
ته لومړیخپله په احتیاط په لوړغږ شاګردانو ته ووایی او له شاګردانو
دې وغواړی چه هم یې په دقت واوری او هم د معلم خولی
ده. وګوری چه څنګه یې تلفظ کوی. معلم دې هر مربوط مثال لږتر
لږه دره وارې تکرار کړی. لکه ده، ده.
بیا دې ښوونکی د ټولو حروفو مربوط مثالونه په ترتیب سره
تلفظ کړی او له شاګرداونو نه دې وغواړی چه ټول یې په یوه غږ
ورسره تکرار کړی. ورپسې دې استاد له شاګردانو نه وغواړی چه
یو یې فقط د یوه غږ مربوط مثالونه تلفظ کړی او نور
شاګردان دې یو ځای ورسره تکرار کړی. که د شاګرد تلفظ
غلط ؤ، ښوونکی دې یې تصحیح کړی او شاګردان دې ورسره
تکرار کړی. ښایی زده کوونکو ته د «ت، د، ل، ن،» غږونه
د هغو له انګریزی معادلو غږونو «n,l,d,t» سره عین شی وښکاری.
مګر بیا هم له یو بل سره فرق لری.
نوټ: ښوونکی باید ملتفت وی چه د خپلې ژبې د زده کړې
په وخت کې سری تحریری ژبه زده کوی. څکه تقریری ژبه

یې په کور کلی کې زده کړې وی. مګر څوك چه خارجی ژبه لولی هغوی معمولاً هم تحریری ژبه زده کوی او هم تقریری.

## Practice
## مشق

ښوونکی دې ددغو کلمو هره یوه، دوه دوه وارې ووایی او له شاګردانو نه دې وغواړی چه یو ځای یې ورسره ووایی. بیا دې ددغو کلماتو هر کتار یو شاګرد تلفظ کړی او نور شاګردان دې یو ځای په لوړ غږ ورسرهٔ ووایی. کله که د شاګرد تلفظ ښه نه وی، نو ښوونکی دې ورته تلفظ کړی او ټول شاګردان دې یې یو ځای ورسره تلفظ کړی.

## More Practice
## نور مشق
## Afghanistan
## افغانستان

ښوونکی دې لومړی دا ټولې جملې او نومونه ووایی او شاګردان دې یې واوری. بیا دې ښوونکی ټول له سره ووایی او زده کوونکی دې په لوړ غږ ورسره تکرار کړی.
بیا دې یو زده کوونکی د نقشې خوا ته ودریږی او نور زده کوونکی دې په نوبت د افغانستان د یوه ولایت نوم ورته واخلی او له هغه نه دې وغواړی چه په نقشه کې یې وروښیی. هغه دې دا کار وکړی. لکه دا چه :

فراه را وښیه .

دغه ده.

بیا دې ښوونکی له شاګرد سره دا سوال او ځواب وکړی.

فراه چېرې ده؟

فراه په افغانستان کې ده .

دا پوښتنه دي د ټولو هغو ولایتونو په باره کي وشي چه نوموته
یي لیکل شوی او ټولو ته دي عین هغه ځواب ورکړل شي لکه
د فراه په برخه کي چه ورکړل شوی دی. شاګردان دي په سوال او
ځواب دوارو کي برخه واخلی . ښوونکی دي د زده کوونکو تلفظ
تصحیح کوی.

## Section 3: The Pashto Alphabet
## دري یمه برخه: پښتو الفبا

### Letter Shapes
### توری

کوم حروف چه the vowel symbols تر عنوان لاندي راغلی هغه د
شاګردانو دپاره دی او ښوونکی دي سر پري نه خوږوی.
اما ددي برخي عمده مشکل د حروفو له ترکیب او له یو بل
سره نښلولو نه پیدا کیږی. ښوونکی باید زده کوونکو ته یو څه
وخت ورکړی چه هغه برخه چه عنوان یي د تورو اشکال دی په
دقت ولولی. بیا دي ښوونکی له هغو مثالونو نه چه د examples تر
عنوان لاندي راغلي یو څو په تخته ولیکي او شاګردانو ته دي
توضیح کړی چه پښتو له ښی خوا نه چپ خوا ته لیکل کیږی او
څکه نو د ښی لاس خوا ته توری د چپ لاس خوا ته تورو سره
نښلول کیږی. دغه راز دي ښوونکی زده کوونکو ته ووایی چه په
کتاب کي د تورو ډلي د کار د اسانی دپاره له یو بل سره د
ورته والی په اساس ویشل شوی دی. مثلاً ب پ ت ....یوه ډله
شوی او ح خ ځ بله ډله او داسي نور.
دغه راز دي ښوونکی د مثالونو په واسطه دا خبره زده کوونکو ته
وښی چه ځیني توری لکه "د" او "ر" هیڅکله له یو بل سره نه
نه نښلی. مګر نور توری له یو بل سره نښلی. دغه راز دي
ښوونکی د زده کوونکو توجه دي ته ور واړوی چه د حروفو لاندي
باندي ټکی او نوري علامي ډیري مهمي دی. څکه پرته له هغه نه

د تورو فرق نه کيږی. لکه د "ت" او "ټ" فرق د هغې دايرې په واسطه کيږی چه تر "ټ" لاندې ليکل شوی ده.
په دې پسې دې ښوونکی له شاگردانو نه وغواړی چه هغه کلمات او سيلابونه چه په کتاب کې د تمرين په غرض ليکل شوی، په تخته او بيا د کاغذ پر مخ وليکی. که هر شاگرد مشکلات لری ل ښوونکی نه دې پوښتنه وکړی او ښوونکی دې دغه مشکلات په لوړ غږ توضيح کړی.
ښوونکی دې شاگردانو ته دا هم ووايې چه کوم کلمات چه په دې برخه کې راغلی هغه فقط د ليك د زده کړې د تمرين د پاره دی او دوی مکلف نه دی چه زده يې کړی.

## The Pashto Alphabet
## پښتو الفبا

ښوونکی دې د الفبا د ټولو تورو نومونه په لوړ غږ ولولی او له شاگردانو نه دې وغواړی چه يو ځای يې ورسره ووايې. ښوونکی دې شاگردانو ته دا هم ووايې چه پښتو الفبا تل په همدې ترتيب ليکل کيږی او خلك يې په دې ترتيب يادوی.

## Transcription Symbols and Pashto Letter Equivalents
## توری او غږونه

ښوونکی دې زده کوونکی دې ته متوجه کړی چه د درس دا برخه له هغوی سره د املا په برخه کې مرسته کوی. ځکه دا شاگردانو ته دا مطلب توضيح کوی چه پښتو واولونه او کانسونټونه په کومو تورو ليکل کيږی.

## Section 4: Diversions

### څلورمه برخه: تفريح

ښوونکی دې شاګردانو ته ووايي چه دا پښتو لنډۍ په ياد کړی
او په معنا يې ځان پوه کړی. شاګردانو ته د لنډۍ په باره کې
د هغو د درس په ممد کتاب کې کافی معلومات ورکړل شوی.
خو که ښوونکی ضروری وګڼی کولی شی په دې باره کې نور څه
هم ورته ووايي. که شاګردانو په دې ارتباط سوالونه لرل، ښوونکی
دې ورته حل کړی.

### Workbook Exercises

Exercise T1.

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| 1. | بر بر | 6. | مال مال | 11. | شپږ شپږ |
| 2. | بار بار | 7. | ده ده | 12. | نهٔ نهٔ |
| 3. | غر غر | 8. | لار لار | 13. | لس لس |
| 4. | غار غار | 9. | خان خان | 14. | که که |
| 5. | مل مل | 10. | درس درس | 15. | لر لر |

Exercise T2.

| | | | |
|---|---|---|---|
| 1. | ښه ښه | 6. | خير خير |
| 2. | سخت سخت | 7. | خدای خدای |
| 3. | پوخ پوخ | 8. | خپل خپل |
| 4. | تنخا تنخا | 9. | پښتو پښتو |
| 5. | ماښام ماښام | 10. | ښکته ښکته |

Exercise T3.

1. غوړ غوړ
2. روغتون روغتون
3. تږی تږی
4. گل گل
5. غټ غټ
6. راغلی ړاغلی
7. گردیز گردیز
8. افغانستان افغانستان
9. غوړ غوړ
10. گډا گډا

Exercise T4.

1. نرمه نرمه
2. خواري خواري
3. دلته دلته
4. کورنۍ کورنۍ
5. د د
6. دوولس دوولس
7. وروسته وروسته
8. کور کور
9. مازدیگر مازدیگر
10. موده موده

Exercise T5.

1. کړی کړی
2. ډېره ډېره
3. خوبوړی خوبوړی
4. غواړو غواړو
5. گډا گډا
6. غونډۍ غونډۍ
7. جوړه جوړه
8. غواړو غواړو
9. لاړ لاړ
10. کړکۍ کړکۍ

# Unit 2: نور چیري دی؟

## Section 1. Dialogue
## لومړی برخه : دیالوګ

ښوونکی دي اول شاګردانو ته د دیالوګ د ماهیت په باره کي وغږیږی او ورته و دي وایی چه دا د داود او امان تر منځ د هغوی د اشنایانو او مربوطینو په باره کي سوال او ځواب دی. بیا دي ښوونکی ټول دیالوګ په پوره وضاحت مګر په طبعي ډول شاګردانو ته دوه واري ولولی او له شاګردانو دي و غواړی چه په دقت يي واوری. په دي پسي دي دیالوګ لږ تر لږه دوه واري بیا ولولی او له شاګردانو نه دي وغواړی چه په لوړ غږ يي ورسره تکرار کړی. بیا دي يو زده کوونکی د خپل میز خوا ته ور وغواړی او هلته دي دی او زده کوونکی د داود او امان په حیث دیالوګ څومره چه امکان لری هغومره په طبعي ډول تمثیل کړی. بیا دي ښوونکی یو بل شاګرد هم ور وغواړی او له هغه بل او دي شاګرد نه دي وغواړی چه دیالوګ دوه واري تمثیل کړی . که د شاګردانو په تلفظ او یا د لوستلو په آهنګ intonation کي څرګند نقص وی هغه دي سمدستی ورپه ګوته او اصلاح کړی. پدي پسي دي معلم یو ځل بیا ټول دیالوګ خپله ولولی او له شاګردانو نه دي وغواړی چه په لوړ غږ يي ورسره تکرار کړی. وروسته له دي نه دي شاګردانو نه وغواړی چه دوه دوه سره جوړه شی او دیالوګ په لوړ غږ سره ووایی او نور شاګردان دي ور سره تکراروی. ښوونکی دي پدي جریان کي کوشش وکړی چه په خبرو کي څرګند نواقص اصلاح کړی.

## New Vocabulary
## نوی لغات

پدې برخه کې هغه لغات راغلی دی چه شاګردان نوی ور سره اشنا کیږی.

## Section 2: Sentence Structure
## دوهمه برخه :د جملې جوړښت

### Basic Order of Words in a Sentence
### په جمله کې د کلماتو اساسی ترتیب

ښوونکی دې شاګردان په دا لاندې ټکو پوه کړی.

۱ـ په پښتو کې په عادی ډول فاعل د جملې په سر کې او فعل د جملې په پای کې راځی. د نورو کلماتو عادی ترتیب دادی چه په فاعل پسې مفعول او په مفعول پسې قید راځی. لکه دا چه:

سلیم لیلا ښه پیژنی.

پدې جمله کې «سلیم» فاعل «لیلا» مفعول، «ښه» قید او «پیژنی» فعل دی.

۲ـ متمم یا complement ښایی له صریح مفعول یا غیر صریح مفعول یا صفت او یا ددغو له یوه ترکیب نه جوړ دی.

۳ـ که «فاعل» له قرینې نه معلوم وی، هلته بیا هذف کیږی.

مثلاً: که څوك له چا نه پوښتنه وکړی چه «سلیم» چیرې دی؟ په ځواب کې به ورته وویل شی چه «په صنف کې دی.» پدې وروستۍ جمله کې د جملې فاعل یعنی «سلیم» ځکه هذف شوی چه متکلم او مخاطب دواړه د سوال له مخې پدې پوهیدلی چه د «سلیم» په باره کې غږیږی.

٤ـ په پښتو کې په سوالیه او بیانیه جملو کې د کلماتو ترتیب عین شی وی. د سوالیه او بیانیه جملې فرق د آهنګ (intonation) په واسطه کیږی.

٥ــ منفی جملې په عمومی ډول له مثبتو جملو نه داسې جوړيږی
چه له فعل نه دمخه د «نه» کلمه اچول کيږی. لکه دا چه:
ليلا نه گډيږی.

## The Verb 'be' in Pashto
## په پښتو کې د «يم» فعل

کوم اشکال چه تر دې عنوان لاندې راغلی هغه دوه ډول استعمال لری. کله د اصلی فعل په شکل استعماليږی مثلاً: غلځی صاحب په صنف کې دی. کله د معاون فعل په توگه استعماليږی. مثلاً: تور تللی دی. په اوله جمله کې (دی) د انگريزی د 'is' معنا لری او په دوهمه جمله کې د انگريزی د 'has' معنا لری.

## Practice
## تمرين

پدې برخه کې داسې تمرينونه راغلی چه شاگردان له هغو ټکو سره زياتره بلد کری چه په پښتو جمله کې د کلماتو د ترتيب په باره کې دمخه ياد شول. ښوونکی دې له شاگردانو نه وغواړی چه تمرينونه له هغه هدايت سره سم عملی کری چه په دې برخې کې راغلی دی.

## Prepositional Phrases in Pashto
## مغيره آدات

ښوونکی دې زده کوونکی په دې پوه کری چه په پښتو کې برخلاف د انگريزی ډېر ځله مغيره آدات جوړه جوړه استعماليږی. لکه په «په کور کې» چه «په» د «کور» له کلمې نه وړاندې راغلی او «کې» د «کور» له کلمې نه وروسته. دغه راز «له شاگردانو سره» دوه مغيره آدات راغلی د. يو «له» دی چه د شاگردانو له کلمې نه

وراندی راغلی او بل «سره» دی چه دغې کلمې نه وروسته راغلی.
ښوونکی دې شاگردانو ته دا هم ووایی چه کله کله «له» حذف کیږی او یوازې «سره» ویل کیږی لکه دا چه: شاگردانو سره.

## Section 3: Reading
## قرائت

۱ـ ښوونکی دې دا جملې پر تخته ولیکی او یو ځل دې یې په لوړ غږ ولولی. بیا دې له شاگردانو نه وغواړی چه هر یو یې یوه جمله ولولی. ښوونکی کولی شی په لوستلو کې مرسته ورسره وکړی.
۲ـ شاگردان دې یو یو دا جملې ولولی. ښوونکی کولی شی چه په لوستلو کې مرسته ور سره وکړی. کله چه شاگرد جمله ولولی، ښوونکی دې بیا پوښتنه ور نه وکړی چه دا جملې او پوښتنې د لیلا په باره کې دی او که نه؟
۳ـ ښوونکی دې له شاگردانو نه وغواړی چه هر یو یې د ځان او یا خپلو هم صنفیانو په باره کې پوښتنې وکړی. لکه دا چه:
امان چیری دی؟
ښوونکی باید شاگردان په کلکه دې ته متوجه کړی چه یوازې له هغو کلماتو نه کار واخلی چه تر دې وخته یې په درسی کتاب کې لوستلی دی.

## New Vocabulary
## نوی لغات

ددې برخې مطلب دادی چه شاگردان هغو لغاتو ته متوجه شی چه پدې درس کې راغلی دی.

## Have You Understood?
## پوهیدلی یاستئ؟

ښوونکی دي له شاګردانو نه وغواړی چه دغه جملي ولولی او معنا یي کړی.

## Section 4: Word Structure
## څلورمه برخه : دکلماتو تصنیف

### Pashto Noun Classes: Part 1
### د پښتو اسم ډلي

پدي برخه کي کلمات د عدد، حالت او جنس په اساس تصنیف شویدی. په پښتو کي direct case اصلی حالت بلل شوی او oblique case غیر اصلی حالت. له کومو اسماوو، ضمأیرو او صفاتو سره چه مغیره آدات لکه له، ته، سره او نو نه وی راغلی هغه په اصلی حالت کي دی او که مغیره آدات ورسره راغلی وی هغه په غیر اصلی حالت کي دی.

غمی راغلی دی.

امان غمی ته وویل.

د پورته جملو په اوله کي غمی په اصلی حالت کي دی او په دوهمه جمله کي په غیر اصلی حالت کي.

د کار د آسانتیا دپاره د اسم هره ډله په عدد ښودل شوي ده. لکه اوله ډله، دوهمه ډله او داسي نور.

کوم اسمونه چه په دغو ډلو کي نه راځی هغه د بی قاعدي اسمونو په نامه یاد شوی دی.

## Some Noun Classes
## د اسمونو ځينې ډلې

پدې برخې کې د اسمونو بېلې بېلې ډلې توضيح شوی دی لکه
دا چه کومه ډله په کوم توری پای ته رسيږی.
دغه راز ځينې بې قاعدې اسمونه هم تو ضيح شوی او په مثالونو
ښودل شوی دی.

## Practice
## تمرين

ددې تمرين مطلب دا دی چه شاگردان د اسم له بېلو بېلو شکلونو
سره زياتره بلد کړی. ښوونکی دې ددغو تمرينونو د اجراکولو په
برخه کې د مؤلف هدايتونه تعقيب کړی.

## Section 5: The Pashto Alphabet
## پنځمه برخه : پښتو الفبا

## Some Ligatures and Conventions
## ترکيبی توری او مد او زورونه

دلته د الفبا يو شمېر نور توری معرفی شوی دی. شاگردان بايد
هم ددغو تورو نومونه زده کړی اوهم خپله توری حفظ کړی.
ښوونکی دې شاگردانو ته دا خبره وکړی چه «لا» له «ل» او «ا»
او«لی» له «ل» او «ی» او «لم» له «ل» «م» نه جوړ دی.
ښوونکی دې شاگردان په دې هم پوه کړی چه دوه زورونه لکه د
«مثلاً» په کلمه کې [an] تلفظ کيږی.

## Practice
## تمرین

په اول تمرین کې دې د شاګردانو نه وغوښتل شي چه دغه کلمې ولیکي. وروسته له هغه چه شاګردانو لغات ولیکل، ښوونکی دې هغه وګوري او اصلاح دې کړي. په دوهم تمرین کې شاګردان باید څو څو وارې لغات ولولي چه ښه او زر یې ولوستی شي.

## Section 6: Diversions
## شپږمه برخه: تفریح

ښوونکی دې شاګردانو ته روایي چه دا پښتو متل دی. بیا دی یې د مفهوم او د استعمال د ځای په باره کې توضیحات ورکړي او که شاګردانو غوښتل یو دوه نور متلونه دی هم ورته روایي. مګر د درس ډېر زیات وخت باید پرې ضایع نشي.

## Workbook Exercises

Exercise T1.

1. اسلام آباد
2. پښتو
3. شاګرد
4. شاعر
5. تاریخ
6. پرستاره
7. ملګری
8. سترې
9. رښتیا
10. جوړه
11. ډېرې
12. دوی
13. شاګرد
14. ډاکټر
15. نژدې
16. خیر
17. پښتو
18. تاریخ
19. رښتیا
20. خدای

Exercise T2.

1. د امان ښځه پرستاره ده .
2. داود او جون د امريکا دی؟
3. غلځی صاحب، امان، ليلا ، رابيا، پتنګ او اسد ټول پښتانه دی؟
4. ليلا د پتنګ ښځه ده؟
5. پتنګ شاعر نه دی.
6. د پوهنتون شاګردان نه يو.
7. پتنګ ډاکټر دی؟
8. امان! د داود او جون د پښتو ښوونکی نه دی.
9. جون او داود د افغانستان دی؟
10. اسد په پوهنتون کي شاګرد دی.

Exercise T3.

1. داود او جون د امريکا دی.
2. غلځی صاحب، امان، ليلا ، رابيا، پتنګ او اسد ټول پښتانه دی.
3. ليلا د پتنګ ښځه ده.
4. پتنګ ډاکټر نه دی.
5. جون او داود د افغانستان دی.
6. د اسد کورنۍ په افغانستان کي ده .
7. د غلځی صاحب ښځه په امريکا کي ده .
8. رابيا او جون په پوهنتون کي شاګرداني دی.
9. جون او رابيا نژدي ملګري دی.
10. اسد په صنف کي يوازي ناست دی.
11. امان ښه شاعر دی.
12. ليلا په پوهنتون کي شاګرده ده .
13. غلځی صاحب د پښتو شاګرد دی.
14. امان او پتنګ شاګردان دی.
15. داود پښتون نه دی.

Exercise T4.

| | | |
|---|---|---|
| 1. په | 6. کابل | 11. یي |
| 2. او | 7. خدای | 12. دی |
| 3. کي | 8. خنګه | 13. تشکر |
| 4. سلام | 9. امریکا | 14. یم |
| 5. کور | 10. چیري | 15. یاستئ |

# Unit 3: ته څه کار کوې؟

## Section 1: Dialogue
## لومړۍ برخه: ډيالوګ

ښوونکی دې اول شاګردانوته دډيالوګ په باره کې دا ووايي چه دلته تريسا او اسد له يو بل سره معرفي کيږي او دواړه کوشش کوی چه د يو بل په باره کې زياتره معلومات پيدا کړی. پدې پسې دې ښوونکی ټول ډيالوګ، دوه درې وارې، داسې ولولی لکه چه خبرې کوی او له شاګردانو نه دې وغواړی چه په دقت يې واوری. بيا دې ښوونکی ډيالوګ دوه درې وارې ولولی او له شاګردانو نه دې وغواړی چه په لوړ غږ يې ورسره تکرار کړی. پدې پسې دې ښوونکی يو شاګرد دخپل ميز خواته ور وغواړی او هلته دې ډيالوګ په ګډه ورسره ولولی. بيا دې ښوونکی يو بل شاګرد هم خپل ميز ته ورووغواړی. له ها بل شاګرد سره دې جوړه کړی چه ډيالوګ په ښېخي طبعي ډول تمثيل کړی.که امکان ولری ښه به دا وی چه يو له دغو شاګردانو نه هلک - او بل يې نجلۍ وی. ښوونکی دې په عين وخت کې کوشش وکړی چه د زده کوونکو تلفظ او د لوستلو طريقه اصلاح کړی. له دې نه وروسته دې ښوونکی ډيالوګ يو ځل بيا يوازې په وضاحت او ورو ورو ولولی او له شاګردانو نه دې وغواړی چه په لوړ غږ يې ورسره تکرار کړی. په پای کې دې ښوونکی له شاګردانو نه وغواړی چه دوه دوه سره جوړه شي او ډيالوګ په نوبت ولولی. ښوونکی دې کوشش وکړی چه د زده کوونکو غلطۍ او نواقص اصلاح کړی.

## New Vocabulary
## نوی لغات

په دې برخه کې هغه لغات لیکل شوی چه په پخوانو درسونو کې نه دی راغلی او شاګردان نوی ورسره اشنا کیږی.

## Practice
## تمرین

لومړی دې ښوونکی له شاګردانو نه وغواړی چه دغو پوښتنو ته صحیح ځوابونه ورکړی. بیا دې زده کوونکی دوه دوه سره جوړه شی. یو دې همدغه پوښتنې وکړی او بل دې ربښتینی ځوابونه ورته ورکړی.

## Section 2: The Present Tense
## دویمه برخه: حال زمانه

### Examples
### مثالونه

ښوونکی دې زده کوونکو ته ووایی چه د پښتو حال زمانه د مفهوم په لحاظ د انګریزی د ساده حال simple present زمانې او د انګریزی د استمراری present continuous زمانې په شان ده.
مثلاً: «زه کار کوم» هم د انګریزی د I work معنا لری او هم د انګریزی د I am working معنا لری.
په پښتو کې په حال او همدغه راز تېره زمانه کې د «ناتمام» imperfective فعل معنا داده چه فعل لا هم جاری دی او پای ته نه دی رسیدلی. مګر د «تمام» perfective فعل معنا داده چه فعل نور جریان نه لری او پای ته رسیدلی.
د «ناتمام» فعل مثال: زه چه دریږم.
د «تمام» فعل مثال: زه چه ودریږم.

## Forms
## اشکال

پدې برخه کې دفعل اشکال د متکلم، مخاطب او غایب شخص له خاتمو سره ښودل شوی دی. یا په بل عبارت کوم اشکال چه په دې برخه کې راغلی هغه زده کوونکی له دې تکی سره زیاتره اشنا کوی چه فعل د متکلم شخصی دپاره تصریف شی په څه شی ختمیږی؛ چه د مخاطب دپاره تصریف شی په څه شی ختمیږی او چه د غایب دپاره تعریف شی په څه شی ختمیږی.

## Practice
## تمرین

ښوونکی دې له شاگردانو نه وغواړی چه تر دې عنوان لاندې لیکل شوی فعلونه په جملو کې استعمال کړی. پدغو جملو کې هم باید سوالیه جملې وی او هم مثبتې او منفی . دغه راز دې ښوونکی زده کوونکو ته د هغو افعالو ساختمان او جوړښت توضیح کړی چه په جملو کې راغلی دی.

## Section 3: Reading
## درې یمه برخه: قرائت

څرنگه چه دا پارچه یو څه اوږده ده نو ښوونکی کولی شی چه لومړی برخه یې یوه ورخ زده کوونکو ته تدریس کړی او دوهمه برخه یې بله ورخ. خو که کافی وخت موجود ؤ او ښوونکی کولی شو چه دواړه برخې یې په یوه ورخ تدریس کړی؛ څه ممانعت نشته .

## New Vocabulary
## نوی لغات

پدې برخه کې نوی کلمات په هغه شکل ثبت شوی چه په دیالوګ کې راغلی دی، مثلاً «افغانان»، «مجاهدین» او نور. ددې خبرې دلیل دادی چه زده کوونکی له دغو کلماتو سره نابلده دی. که نه وی نو د لغاتو په فهرست کې به د «افغان» او «مجاهد» کلمې لیکل شوې وی.

## Have You Understood?
## تمرین

ښوونکی دې له شاګردانو نه وغواړی چه هغو جملو ته چه له «۱» نه تر «۱۰» پورې پدې مخ کې راغلی د «هو» او «نه» ځواب ورکړی. دشاګردانو ځوابونه بایدپه هغو معلوماتو بنا وی چه په «قرائت» کې راغلی دی. ښوونکی دې زده کوونکی دې ته متوجه کړی چه دوهمه برخه پوښتنو ته هلته ځواب ورکولی شی چه د «قرائت» په برخه کې راغلی دی.

## Section 4: Word Structure
## څلورمه: برخه دکلماتو جوړښت

ددې برخې مطلب دادی چه زده کوونکی په دې وپوهول شی چه د څه ډول کلمو جمع څنګه جوړیږی او د څه ډول کلمو غیر اصلی حالت څه شکل لری. څرنګه چه پښتو کلمات ځوك مذکر او ځوك مؤنث دی او څرنګه چه مذکر او مؤنث کلمات دخپل شکلی جوړښت په لحاظ معمولاً له یو بل سره فرق لری نو له دې امله یې د جمع او د غیر اصلی اشکالو د جوړیدلوقاعدې هم له یو بل سره فرق لری. ځکه نو مذکراو مؤنث کلمات جلا فهرست شوی دی. مؤنث او همدغه راز مذکر کلمات هم بیا خپله د جمع او غیر اصلی شکل د جوړیدو په لحاظ په بېلو بېلو ډلو ویشل شوی‌دی. لکه د مؤنثو کلماتو لومړی، دوهمه او درې یمه ډله اوداسې نور.

## Irregular Nouns in This Unit
## ددې برخې بې قاعدې اسمونه

په دې برخه کې هغه اسمونه راغلی چه جمع اوغیر اصلی اشکال یی د کومې قاعدې په اساس نه جوړیږی او څکه ئو بې قاعدې اسمونه بلل کیږی . ښوونکی دې په دې باره کې شاگردانو ته لنډ توضیحات ورکړی. دلته هم مذکر او هم مؤنث اسمونه جلا جلا راغلی دی.

## Practice
## تمرین

کومې جملې چه په دې برخه کې راغلی هغه تولې له «لوست» نه را اخستل شوی او د تمرین هدف دادی چه زده کوونکی د هرهغه اسم ډله یا class په گوته کړی چه خط ترې لاندې ایستل شوی دی. دغه راز دې دا هم ووایی چه دا اسمونه مفرد دی او که مذکر، دا چه اصلی direct شکل لری او که غیر اصلی oblique شکل. دغه رازشاگردان دا هم باید توضیح کړی چه کلمه څه وخت په اصلی شکل راځی او څه وخت په غیر اصلی شکل.

## Section 5: Diversions
## پنځمه برخه: تفریح

په دې برخه کې دې ښوونکـــی شاگردانو ته ووایی چه دغه راز لنډې کیسې په پښتنو کې ډېرې زیاتې دی او اکثره داسې دی چه د یوې سیمې خلك یې د بلې سیمې خلکو ته او یو قام یې بل قام ته منسوبوی. مثلاً د هوښیاری کیسې اکثره لغمانیانو ته منسوبې دی او دسادگۍ کیسې اکثره وردگو ته منسوبیږی. که وخت ؤ او شاگردانو غوښتل ښوونکی کولی شی چه یوه بله لنـــده کیسه هم ورته ووایی.

## Workbook Exercises
## ددرس د ممد کتاب شفاهی تمرینونه

Exercise 1.

Speaker 1:

زما نوم پتنگ دی. ډاکټر یم. د لغمان یم. په امریکا کې اوسېږم.

Speaker 2.

زما نوم سپین دی. دکابل پښتون یم. ښوونکی یم. په غزنی کې اوسېږم.

Speaker 3.

زما نوم اسد دی. شاگرد یم. د لوگر یم. په امریکا کې په پوهنتون کې کیمیا لولم.

Speaker 4.

زما نوم احمد دی. مجاهد یم. د شلگر یم، خو په ننگرهار کې اوسېږم.

Speaker 5.

زما نوم حسن دی. په کابل کې په پوهنتون کې زده کوونکی یم ژبپوهنه لولم. زما کورنۍ په لوگر کې ده.

Exercise T2.

1. د غلځی ماما د شلگر ملك دی؟
2. د لیلا او اسد مور اندړه ده.
3. غلځی صاحب د شلگر د خلکو جامې اغوندی؟
4. کیمیا لولی.
5. په ننگرهار کې اوسېږم.
6. په پوهنتون کې تاریخ پوهنه لولی؟
7. په لوگر کې کار کوو.
8. د لیلا او اسد کورنۍ په غزنی کې اوسېږی.
9. لیلا او رابیا کله کله د امریکا د خلکو جامې اغوندی.
10. د غلځی صاحب تول زده کوونکی پښتو لولی؟

Exercise T3.

1. غلځی صاحب د غزنی دی؟
2. لوګر په افغانستان کې یو ولایت دی؟
3. پتنګ په کابل کې اوسېږی؟
4. د امان ښځه په افغانستان کې اوسېږی؟
5. جلال آباد په ننګرهارکې دی؟
6. امان کیمیا لولی؟
7. د امان یو ملګری د مجاهدینو قوماندان دی؟
8. لیلا د اسد خور ده؟
9. د غلځی ماما په امریکا کې اوسېږی؟
10. رابیا په کابل کې په پوهنتون کې شاګرده ده؟
11. د داود ملګری ټول د افغانستان د یوې سیمې دئ؟
12. داود، جان او تریسا ټول پښتو لولی؟

Exercise T4.

1. خو  2. او  3. په  4. ته  5. خان  6. چېرې  7. پښتو
8. څنګه  9. د  10. ټول  11. دی  12. دی  13. دی  14. ډېرې
15. ښه  16. کور  17. نور  18. نه  19. هو  20. بم

Exercise T5.

1. استاد  2. صنف  3. اوسېږو  4. پوه شوې  5. ژما
6. هرڅوك  7. هغه  8. ایران  9. جلال آباد  10. خان آباد
11. صاحب  12. اوسیدونکی  13. عربستان  14. مزارشریف
15. مهربانی  16. اسلام علیکم  17. هو  18. نه

# Unit 4: ورونه او خويندې

## لومړۍ برخه: ډيالوګ
## Section 1: Dialogue

ښوونکی دې شاګردانو ته ور په زړه کړی چه په تېر ډيالوګ کې اسد اوتريسا سره معرفي شوی او داسې ښکاری چه د تريسا له اسد سره علاقه پېدا شوی وی او ځکه نو اوس غواړی چه د هغه په باره کې زياتره معلومات پېدا کړی. بيا دې ښوونکی ټول ډيالوګ دوه درې وارې په وضاحت او طبعي ډول ولولی او له شاګردانو نه دې وغواړی چه په دقت يې واوری. بيا دې ښوونکی ډيالوګ دوه درې وارې ولولی او شاګردان دې په لوړ غږ ور سره تکرار کړی.
بيا دې استاد او يو شاګرد ټول ډيالوګ په طبعي ډول ولولی او نور شاګردان دې يې واوری.
پدې پسې دې دوه شاګردان ډيالوګ تمثيل کړی او نور شاګردان دې واوری. که ممکنه وی ښه به دا وی چه ددغو دوو تنو يو نارينه او يوه يې ښځه وی. که زده کوونکی په لوستلو کې غلطی کوی او يا ډيالوګ په طبعي ډول نه لولی ښوونکی دې يې ورته ملتفت کړی. پدې پسې دې ښوونکی دوه تنه نور شاګردان خپل مېز ته وروغواړی او له هغوی نه دې وغواړی چه ډيالوګ په لوړ غږ مګر په طبعي لهجه ولولی.
نور زده کوونکی دې ډيالوګ په دقت واوری. په دې پسې دې ښوونکی يو ځل بيا هم ډيالوګ په لوړ غږ ولولی او شاګردان دې ور سره تکرار کړی. بيا دې ښوونکی له زده کوونکو نه وغواړی چه دوه دوه سره جوړه شی او ډيالوګ په نوبت ولولی. ښوونکی دې کوشش وکړی چه د زده کوونکو غلطی اصلاح کړی.

## New Vocabulary
## نوی لغات

په دي برخه کي ټول هغه لغات، اصطلاحات idioms او فقرات phrases راغلیچه په پخوانو درسونو کي نه وو راغلی اوشاګردان نوی ور سره مخامخ کېږی.
کوم متل چه دلغاتو په پای کي راغلی هغه دي استاد شاګردانو ته معنا کړی او که د وخت له نظره امکانات موجود وو ښوونکی دي ددغه متل د استعمال په باره کي هم زده کوونکو ته یو څه معلومات ورکړی او دا دي هم ورته ووایی چه ښځي په افغانستان کي ستري دی او بېګانه يي مخ نشي لېدلی. څکه نو خلك وايی چه د نجلی د ښکلا په باره کي د هغي د ورور د ښایست له مخي قضاوت کېدلی شي.

## Practice
## تمرين

ښوونکی دي له شاګردانو نه وغواړی چه دا تمرينونه له هغو هدايتونو سره سم حل کړی چه خپله په همدي برخه کي ور کړل شوی دی.

## Section 2: Numbers
## دوهمه برخه: اعداد

ښوونکی دي دغه اعداد يو يو شاګردانو ته ولولی او له شاګردانو نه دي وغواړی چه ور سره تکرار يي کړی.

## Practice
## تمرين

ښوونکی دي لومړی له زده کوونکو نه وغواړی چه دغه د اعدادو کتارونه يو يو له a نه تر e پوري ولولی. بيا دي ښوونکی دغه اعداد

ولولی او له زده کوونکو نه دي وغواړی چه په لوړ غږ يي ورسره تکرار کړی. بيا دي ښوونکی له شاگردانو نه وغواړی چه ورپسي پوښتنو ته رښتينی ځوابونه ورکړی. په دي پسي دي زده کوونکی دوه دوه جوړه شی او په نوبت دي د هري جوړي يو غړی پوښتني وکړی او بل دي ځواب ورکړی.

## Section 3: Weak Possessive Pronouns

## دريمه برخه: متصل اضافي ضميرونه

په پښتو کي دوه رازه ضميرونه موجود دی. يو ډول يي منفصل ضميرونه "strong pronouns" دی او بل ډول يي متصل ضميرونه "weak pronouns" منفصل ضميرونه هغه دی چه فشار "stress"پري اچول کيدی شی او د يوي ځانته کلمي په حيث په مستقل ډول استعماليدی شی. مثلاً "ما" ددي پوښتني په ځواب کي چه "کتاب چا راوړ؟" په مستقل ډول استعماليدی شی. يعني د پورته پوښتني په ځواب کي سړی ويلی شی چه "ما". مگر د همدي پوښتني په ځواب کي سړی نشی ويلی چه "مي". په دي ډول "ما" يو منفصل او "مي" يو متصل ضمير دی.

متصل اضافي ضميرونه يعني "مي، دي، يي، مو" فشار "stress" نه لری. داضميرونه تل په يوه بله داسي فقره "phrase" پسي چه فشار لری راځي او له هغي سره يو ځای تلفظ کيږي. دا فقره کيدی شی چه جملي فاعل وی لکه په اوله جمله کي. کيدی شی چه صريح "direct" مفعول وی لکه په دوهمه جمله کي. کيدی شی چه غير صريح "indirect" مفعول وی لکه دريمه جمله کي او يا کيدی شی چه قيد وی لکه په څلورمه جمله کي.

١ــــليلا يي خور ده.
٢ــــجامي يي اغوندم.
٣ــــله ورور سره يي ناست يم.
٤ــــکله کله يي ورور پاکستان ته ځی.

ښوونکی دې زده کوونکو ته دا هم ووايي چه اضافي ترکيب له درې برخو نه جوړ وی. یوه برخه یې مضاف یعنې هغه اسم یا ضمیر وی چه یو شی ورته منسوب وی. بله برخه یې مضاف الیه یعنې هغه اسم یا ضمیر وی چه یوه بل اسم یعنې مضاف ته منسوب وی. بله برخه یې د اضافت توری یعنې "د" دی. مثلاً "دلیلا کتاب" یو اضافي ترکیب دی. "لیلا" مضاف دی؛ "کتاب" مضاف الیه دی او "د" د اضافت توری دی.

## Practice
## تمرین

کوم تمرینونه چه په دې برخه کې راغلی دی، ښوونکی دې هغه ټول په شاګردانو عملی کړی. که وخت وُ، ښوونکی دغه راز نور مسالونه او تمرینونه هم شاګردانو ته ورکولی شي.

## Section 4: Reading
## څلورمه برخه: قرائت

ښوونکی دې ددې برخې د تدریس په برخه کې یوازې دکلماتو او جملاتو په معناکولو او تشریح قناعت نه کوی، بلکه کوشش دې وکړی چه زده کوونکو ته تر ممکنه حده دداسې ثقافتی مسایلو په باره کې هم یو څه توضیحات ورکړی الکه ملی اتڼ او داسې نور.

## New Vocabulary
## نوی لغات

په دې برخه کې ټول هغه لغات د الفبا د ردیف په اساس فهرست شوی دی چه په همدې درس کې راغلی او زده کوونکی دمخه نه وو ورسره مخامخ شوی.

## Have You Understood?
## امتحان

ددې برخې مطلب دا دی چه ښوونکی ځانته معلومه کړی چه زده کوونکی د درس په مطلب پوهيدلی او که نه. ځکه نو بايد زده کوونکی دې د پوښتنو ته صحيح ځوابونه او توضيحات ورکړی.

## Section 5: Diversions
## پنځمه برخه: تفريح

ښوونکی دې زده کوونکو ته د لندۍ په باره کې يو څه معلومات ورکړی او بيا دې د همدې لندۍ په باره کې د لغوی مشکلات حل کړی.

## Workbook Exercises

Exercise T1.

۱. زه امان يم . ښځه مې د لوگر او د اسد خور ده . زما خوريي په کابل کې اوسيږی. دوه وروڼه او درې خويندې لرم. تره مې د کابل د نيازو مشر دی.

۲. زما نوم رابيا دی. پلار مور او کورنۍ مې په امريکا کې دی. دوه خويندې او يو ورور لرم. ورور مې په پاکستان کې دپېښور په پوهنتون کې استاد دی.

۳. زه پتنگ يم. کورنۍ مې په افغانستان کې ده. پلار مې د کابل په پوهنتون کې استاد دی. يو ورور مې په پوهنتون کې شاگرد دی. دوه نور وروڼه مې ښوونکی دی. خور مې په مکتب کې ده.

٤. زما نوم اسد دی. يوه خور مې دلته په امريکا کې ده. نوره کورنۍ مې په افغانستان کې په لوگرکې ده. دوه نورې خويندې او څلور وروڼه لرم.

Exercise T2 and T3.

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| Group A: | ١٠ | ٧ | ٥ | ٢ | ١ | ٨ |
| Group B: | ٢ | ١ | ٩ | ٤ | ٣ | ٦ |
| Group C: | ٦ | ٨ | ٥ | ٧ | ١٠ | ٢ |
| Group D: | ٩ | ١ | ٤ | ٦ | ٨ | ٣ |
| Group E: | ٥ | ٧ | ٢ | ٤ | ٩ | ١٠ |

# Unit 5: هوا سخته توده ده

## Section 1: Dialogue
## لومړی برخه: دیالوګ

ښوونکی دې لومړی ټول دیالوګ دوه واري په طبیعي لهجه ولولی او له شاګردانو نه دې وغواړی چه په غور یې واوری. بیا دې ښوونکی یو شاګرد له ځان سره جوړه کړی او دیالوګ دې په ګډه داسې ورسره ولولی لکه چه سړی خبرې کوی. پدې پسې دې دوه تنه شاګردان سره جوړه کړی او ورنه و دې غواړی چه دیالوګ ولولی. په عین وخت کې دې ښوونکی کوشش وکړی چه د زده کوونکو غلطی اصلاح کړی. بیا دې ښوونکی یو ځل خپله دیالوګ په پوره وضاحت ولولی او له شاګردانو نه دې وغواړی چه په لوړ غږ یې ور سره ووایی. په دې پسې دې ښوونکی له شاګردانو نه وغواړی چه دوه دوه سره جوړه شی او دیالوګ په نوبت ولولی. ښوونکی دې بیا هم کوشش وکړی چه د زده کوونکو غلطی اصلاح کړی.

## New Vocabulary
## نوی لغات

په دې برخه کې هغه لغات راغلی چه په نورو درسونو کې نه وو راغلی.

## Practice
## تمرین

ښوونکی دې له شاګردانو نه وغواړی چه دا تمرین له هغه هدایت سره سم حل کړی چه په دې برخه کې ور کړل شوی دی.

## Section 2: Adjective Classes
## دوهمه برخه: د کلماتو جوړښت دصفاتو ډلې

صفات له مربوطو اسماوو سره مطابقت لری او خکه دې نو ښوونکی شاگردان په دې پوه کړی چه په پښتو کې صفات هم ښایی لکه اسماوو غوندې څو شکله ولری. یو يې مذکر شکل دی او بل يې مؤنث شکل. لکه سوړ جواری. سړه ډوډی. د همدې صفت مذکر او مؤنث بیا هر یو دوه شکله لری چه یو يې د مفرد په حیث استعمالېږی او بل يې د جمع.

| جمع | مفرد |
|---|---|
| ساړه جواری | سوړجواری |
| سړې ډوډی | سړه ډوډی |

دغه راز د همدې صفت مذکر اومؤنث اشکال دواړه په اصلی حالت کې یو شکل لری او په غیر اصلی حالت کې بل شکل. مثلا:

| غیر اصلی حالت | اصلی حالت |
|---|---|
| د ساړه ژمی | سوړ ژمی |
| د سړې شپې | سړه شپه |

البته پورته اشکال ټول مفرد دی. په جمع کې ددغو مذکر او مؤنث اشکال دواړه په غیر اصلی حالت کې په (و) ختمیږی. لکه داچه:

| مؤنث جمع | مذکرجمع |
|---|---|
| دسړو شپو | دسړو ژمو |

نوټ:

ښوونکی باید شاگردانو ته دا هم ووایی چه په جمع کې د صفاتو غیر اصلی اشکال که مذکر وی او که مؤنث داسې جوړیږی چه د مؤنث شکل (ه )په (و) بدلیږی. لکه په همدا پورته دوو مثالونو او یا دا لاندې مثالونو کې:

| مؤنث جمع | مذکرجمع |
|---|---|
| په سړو کوټو کې | په سړو کورو کې |

اما ځینی صفات بیا داسې دی چه مفرد، جمع، مذکر، مؤنث او اصلی او غیر اصلی اشکال يې ټول یو شکل لری. لکه

مثالونه يې دادي:

| جمع مذكر | مفرد مذكر |
|---|---|
| ښايسته ځوانان | ښايسته ځوان |
| د ښايسته ځوانانو | د ښايسته ځوان |
| جمع مؤنث | مفرد مؤنث |
| ښايسته پېغلې | ښايسته پېغله |
| د ښايسته پېغلو | د ښايسته پېغلې |

اما نور صفات بيا داسې دی چه ځينی اشكال يې سره يو شی وی او ځينې يې له يو بل سره توپير لری. لكه هغه صفات چه په همدې برخه كې له يوې نه تر پنځمې ډلې (classes) پورې راغلی دی.
ښوونكی بايد زده كوونكو ته دا خبره توضيح كړی چه په بېلو بېلو ډلو باندې د صفاتو د وېشلو دليل د هغوی اشكال دی. يعنی په هره ډله كې هغه صفات شامل دی چه د اشكالو د جوړښت په لحاظ سره ورته دی.

## Practice
## تمرين

په دې برخه كې دې زده كوونكی لومړی د هغو صفاتو ډلې په ګوته كړی چه خط ترې لاندې ايستل شوی دی. كه وخت موجود و ښوونكی دې ځينې نور صفات هم په توره تخته وليكی او له زده كوونكو نه دې وغواړی چه د هغو ډلې په ګوته كړی.
بيا دې ښوونكی له شاګردانو سره په دې برخه كې مرسته وكړی، چه هغو پوښتنو ته درست ځوابونه وركړی چه په دې برخه كې راغلی دی . دغه راز دې ښوونكی زده كوونكی دې ته تشويق كړی چه له بل نه دغه راز پوښتنې وكړی او ځوابونه يې وركړی.

## Section 3: Reading
## دريم برخه: قرائت

ښوونکي دي له شاګردانو نه وغواړي چه دا برخه ځومره چه امکان لري هغومره صحيح او روانه ولولي. ښوونکي دي په عين وخت کي د زده کوونکو غلطي اصلاح کوي او که وروسته له شاګردانو سره د جملو او کلمو په معنا او يا ګرامري جوړښت کي سوالونه پيدا کيږي ښوونکي دي يي پوښتنو ته ځوابونه ورکړي.

## New Vocabulary
## نوي لغات

دلته هغه کلمات او ترکيبات راغلي چه زده کوونکو له دي درس نه دمخه نه وو ليدلي. داکلمات او عبارات په کوم شکل چه دي هغسي ثبت شوي او داسي نه دي رديف شوي لکه په قاموس کي چه کيږي.
د پوهي امتحان:
ځرنګه چه ددي برخي اصلي مطلب ددي خبري معلومول دي چه شاګردان په دي درس پوهيدلي او که نه؟ نو له دي امله دي ښوونکي له زده کوونکو نه وغواړي چه دغو پوښتنو ته صحيح ځوابونه ورکړي.

## Have You Understood?
## تمرين

په دي برخه کي دي ښوونکي له زده کوونکو نه وغواړي چه په خپلو ملکونو کي د هوا په ځرنګوالي وغږيږي او داڅرګنده کړي چه د کال په بيلو بيلو موسمونو کي هوا څنګه وي.

## Section 4: Asking for Vocabulary
## څلورمه برخه: دکلماتو د معنا پوښتنه

دا برخه له شاګردانو سره په دې کې مرسته کوی چه د يوې کلمې د معنا پوښتنه څنګه وکړی، او دا څانته معلومه کړی چه يو خاص شی ته په پښتو کې او يا کومه بله ژبه کې څه وايی.

### Practice
### تمرين

ښوونکی دې له شاګردانو نه وغواړی چه دغو پوښتنو ته ځوابونه ور کړی او خپله ښوونکی دې غلطۍ ور اصلاح کړی.
دغه راز دې ښوونکی له شاګردانو نه وغواړی چه په صنف کې يوه شی ته ګوته ونيسي او له معلم نه دې پوښتنه وکړی چه دغه او يا هغه شی ته په پښتو کې څه وايی. ښوونکی دې ځواب ورکړی.

## کېږدی Section 5: Diversions
## پنځمه برخه: تفريح

ښوونکی دې دغه لندۍ شاګردانو ته ښه په خوند ولولی اوبيا دې د هغې د معنا او کېفيت په باره کې لنډ توضيحات ورکړی او دادې ورته ووايی چه واوره د ژمی علامه ده او ګلان د پسرلی. مګر په لوړوغرو کې دا دواړه کېفيتونه په يوه وخت کې ليدل کېږی او هغه داچه د لوړو غرونو سرونو په واورو ډك وی او په لمنو کې يې ښکلی ګلان غوړېږی.
دغه کېفيت پښتانه دې فکر ته راوستی چه خدای له لوړو غرو سره مينه لری چه دا دواړه کېفيتونه يې په يوه وخت کې ور په برخه کړی دی.

## Workbook Exercises

Exercise T1.

۱. جوړه یې ؟
۲. گومان کوم چه ډېره ښایسته نه یم .
۳. واده یې ؟
۴. خواره یې ؟
۵. اسد ته منتظر یې ؟
۶. په لوګر کې بلده یم .
۷. له نورو ډاکترانو سره ناست یم.
۸. جوړ نه یم .
۹. ډېره ستړې یم.
۱۰ بیخي خوار یم.

Exercise T2.

۱. خلك ډېر زیات کار کوی. هوا ښه توده ده، خو باران نه اورېږی. کله کله باد لګېږی. بعضې مېوې او فصلونه پاخه شوی. خلك زیات کار کوی.

۲. خلك عموماً په کور کې وی. هوا سخته سره وی. واوره اورېږی او باد لګېږی.

۳. هوا دومره نرمه ده چه سړی غواړی درسته ورځ په باغونو کې وګرځی. هر چېرې ښایسته ګلان غوړېدلی او خلك مېلې کوی.

۴. هوا نرمه وی . ډېرې مېوې پخېږی . خلك ډېر زیات کار کوی.

۵. دا د کابل ښه موسم دی. هوا بیخي ښه وی. پېغلې نوې او ښایسته جامې اغوندی . خلك غرو ته ځی او مېلې کوی.

۶. لارې په واوره بندې وی. کله کله ډېر سخت باد لګېږی. شپې ډېرې سړې او اوږدې وی.

Exercise T3.

1. په اوړی کې بعضې مېوې پخېږی.
2. په ژمی کې هر څوك مېلې کوی.
3. په کابل کې پسرلی ښه موسم نه وی.
4. په اوړی کې هوا سره وی.
5. د افغانستان په غرو کې ډېره زیاته واوره اورېږی.
6. پټنګ توده هوا خوښوی.
7. په منی کې ټول فصلونه او مېوې پخېږی.
8. په اوړی کې ډېر څوك زیات کار کوی.
9. د ګل سرخ مېله په مزارشریف کې کېږی.
10. د نوروز ورځ عامه رخصتی نه وی.
11. د ډېرو ملکونو خلك ګل سرخ ته ځی.
12. په پسرلی کې مېوې پخېږی.
13. په ژمی کې د اسد کورنۍ باغونو ته نه ځی.
14. په افغانستان کې هر څوك باران خوښوی.
15. د منی اولې ورځې ته نوروز وایی.

Exercise T4.

| | | | |
|---|---|---|---|
| 1. استاد | 6. ښه | 11. هرڅوك | 16. وعلیکم |
| 2. اوسېدونکی | 7. صاحب | 12. هغه | 17. ښه |
| 3. اوسېږې | 8. عربستان | 13. هوا | 18. ایران |
| 4. ته | 9. لولم | 14. چه | 19. منتظر |
| 5. زما | 10. مهربانی | 15. اکثره | 20. راځه کښېنه |

# Unit 6: شنبې څه کوی؟

## Section 1: Dialogue
## لومړی برخه : دیالوګ

ښوونکی دې لومړی ټول دیالوګ په عادی ډول دوه وارې ولولی او شاګردان دې په دقت واوری. بیا دې یې ښوونکی او یو تن شاګرد په ګډه داسې ولولی لکه چه عادی خبرې کوی. بیا دې دوه تنه شاګردان سره جوړه شی او دیالوګ دې ولولی. ښوونکی دې کوشش وکړی چه د زده کوونکو غلطی او تلفظ اصلاح کړی. پدې پسې دې ښوونکی یو ځل بیا دیالوګ خپله ولولی او شاګردان دې یې په لوړ غږ ورسره تکرار کړی. بیا دې شاګردان دوه دوه سره جوړه شی او دیالوګ دې په نوبت ولولی . ښوونکی دې بیا هم کوشش وکړی چه د زده کوونکو غلطی اصلاح کړی.

## New Vocabulary
## نوی لغات

تر دې عنوان لاندې ټول هغه کلمات او ترکیبات راغلی چه په پخوانیو درسونو کې نه وو راغلی.

## Practice
## تمرین

ښوونکی دې د شاګردانو نه وغواړی چه دا تمرینونه له هغو هدایتونو سره سم عملی کړی چه د درسی کتاب په همدې برخه کې ور کړل شوی دی.

## Section 2: Time Words and Phrases
## دوهمه برخه : هغه کلمات او ترکیبات چه وخت بیانوی

### Days of the Week
### د هفتې ورځې

پدې برخه کې د هفتې د اوو ورځو نومونه راغلی دی. دلته باید ښوونکی شاګردان دې ته متوجه کړی چه د ورځو نومونه اکثره په پارسی دی. یوازې د یوې ورځې «جمعې» نوم عربی دی. دغه راز دې ښوونکی زده کوونکی دې ته ملتفت کړی چه «یك»، «دو»، «سه»...... فارسی اعداد دی او د«شنبې» له کلمې سره ترکیب شوی دی. ښوونکی دې زده کوونکو ته دا هم ووایی چه عام خلك د «شنبې» ورځې ته د«هفتې» ورځ وایی او شنبې، عموماً تعلیم یافته خلك او میرزایان یا دښارونو ځینی نور اوسیدونکی استعمالوی.

### Examples
### مثالونه

دا مثالونه شاګردانو ته دا ټکی واضح کوی چه د ورځو نومونه څنګه استعمالیږی.

### Times of the Day
### دورځې بېل بېل وختونه

پدې برخه کې څنګه چه له عنوان نه معلومه ده هغه کلمات راغلی چه د ورځې او شپې بېل وختونه بیانوی. ښوونکی دې شاګردانو ته دا خبره توضیح کړی چه عام خلك د ساعتونو ډېر دقیق حساب نه کوی بلکه دوخت د بیانولو د پاره له عنعنوی او هغوکلماتو نه کار اخلی چه د ورځې او شپې بېل بېل وختونه په عمومی ډول له یو بل نه جلا کوی. دغه راز دې ښوونکی شاګردانو ته ووایی چه کوم وختونه چه دلته یادشوی لکه ماسپښین، ماسختن او نور په هغو کې

اکثره د لمانځه مراسم اجرا کېږی. اما ځینې نور دوخت نومونه چه دلته راغلی لکه ځاښت، غرمه او نیمه شپه له هغو نه بیا خلك په خپل عادی ژوند کې د نورو مقاصدو د سرته رسولو دپاره استفاده کوی.

ښوونکی دې زده کوونکو ته دا هم ووایی چه د وخت د بیانولو دپاره په پښتو کې ځینې نور کلمات هم شته لکه چرگ بانگ، ملازان، لوړمازدیگر او داسې نور چه ښایی وروسته به ورسره بلد شی.

## Notes

## یادداشتونه

۱ــ ښوونکی دې شاگردانو ته دا هم ووایی چه په عادی ډول په پښتو جمله کې اول فاعل راځی او بیا زمان لکه دا چه :

تور سبا ته لوگر ته ځی.

۲ــ دوخت نومونه یوازې په مفرد ډول استعمالېږی. د جمع په ډول نه استعمالېږی. مثلاً «ماښامونه» نه ویل کېږی.

## Examples

## مثالونه

دا مثالونه ددې دپاره دی چه شاگردان پوه شی چه دغه کلمات په جمله کې څنگه استعمالېږی.

## Practice

## تمرین

ښوونکی دې شاگردانو نه وغواړی چه دغو سوالونو ته رښتنی ځوابونه ورکړی. بیا دې شاگردان په مختلفو ورځو کې خپل پروگرام بیان کړی. لکه دا چه:

نن ماښام سینما ته ځم. او داسې نور.

## Section 3: Reading
## دريمه برخه: قرائت

دا برخه دې شاګردان جلا جلا ولولی او ښوونکی دې د هغوی مشکلات ورته حل کړی او د مختلفو کلماتو د ډولونو په باره کې دې په ګرامری لحاظ توضيحات ورکړی.

### New Vocabulary
### نوی لغات

په دې برخه کې ټول هغه کلمات او فقرات راغلی دی چه شاګردان په همدې قرائت کې نوی ور سره بلد شوی دی.

### Have You Understood?
### امتحان

څرنګه چه ددغو پوښتنو مطلب ددې خبرې معلومول دی چه شاګردان ددې فصل په ديالوګ او قرائت پوهېدلی او که نه ؟ نو له دې امله بايد زده کوونکی سوالونو ته بيخی صحيح او رښتينی ځوابونه ورکړی.

## Section 4: Telling Time
## څلورمه برخه: د وخت افاده

ددې برخې مطلب د شاګردانو له دې سره اشنا کول دی چه په پښتو کې د وخت مطلب څنګه افاده کېږی. دا مطلب لومړی د مثالونو په واسطه افاده شوی او بيا وروسته په ياداشتونو "Note" کې تبصره هم پرې شوې ده. او ښوونکی بايد زده کوونکوته د ضرورت په صورت کې په دې باره کې څه نور توضيحات هم ور کړی.

## Time-telling Vocabulary

## هغه کلمات چه د وخت د افادې دپاره کار ترې اخستل کېږی

ددې برخې مطلب د شاګردانو له دې سره اشنا کول دی چه په پښتو کې اعداد له یوولسو نه تر دیرشو پورې څنګه ویل کېږی.

## Practice

## تمرین

دا تمرین دې له هغو هدایتونو سره سم عملی شی چه د درسی کتاب په همدې برخه کې راغلی دی.

## Section 5: Diversions

## څلورمه برخه : تفریح

ښوونکی دې شاګردانو ته اول د ملانصرالدین په باره کې یو څه معلومات ورکړی. بیا دې ددې کیسې په باره کې توضیحات ورکړی او د زده کوونکو سوالونه دې حل کړی. که ممکنه وه ښوونکی دې په پای کې د ملانصرالدین یوه بله کیسه هم شاګردانو ته ووایی.

## Workbook Exercises

Exercise T1.

لیلا په روغتون کې کار کوی. لیلا پرستاره ده. لیلا د یکشنبې، دوشنبې، سه شنبې او چارشنبې په ورځ په خپل دفتر کې کارکوی.

غلځی صاحب په پوهنتون کې استاد دی. د جمعې، دو شنبې او چارشنبې په ورځ درس ورکوی. د سه شنبې او پنجشنبې په ورځ په دفتر کې کار کوی. د شنبې او یکشنبې په ورځ په کور کې وی.

رابیا په پوهنتون کې شاګرده ده. کار هم کوی. د دوشنبې، سه شنبې او پنجشنبې په ورځ صنف ته ځی. د چارشنبې، جمعې او شنبې په ورځ دفتر ته ځی. د یکشنبې په ورځ کار نه کوی.

Exercise T2.

۱. امان او لیلا د شنبې په ورځ ماسپښین نوی کارته ځی.
۲. پتنګ د شنبې په ماښام سینما ته ځی .
۳. اسد او ملګری یې د پنجشنبې په غرمه په کافتریا کې مجلس کوی.
٤. لیلا د دوشنبې په ورځ سهار وخته کار ته ځی .
٥. لیلا د جمعې په ماښام د اسد میلمنه ده .
٦. ته د یکشنبې په ورځ ځاښت مهال فوتبال کوې؟
۷. دوی د چارشنبې په مازدیګر کتابخانې ته ځی.
۸. زه د شنبې په ماښام لیلا سینما ته بیایم.
۹. امان د پنجشنبې په ورځ ځاښت مهال ډاکترته ځی.
۱۰. اسد د دوشنبې په ورځ ماسختن تریسا سره کتابخانې ته ځی.

Exercise T3.

۱. د پتنګ پلار ځلیریشت اسونه لری.
۲. اسد دیرش کتابونه لری.
۳. غلځی صاحب اوه لس شاګردان لری.
٤. د پتنګ پلار ځلور کورونه لری.
٥. اسد شپږویشت ورځې په نیویارک کې وی.
٦. امان اوه امریکایی ملګری لری.
۷. لیلا دوولس شپې په ورجنیا کې وی.
۸. اسد پنځلس کتابچې واخستې .
۹. خدای یو دی.
۱۰. هر کال دوولس میاشتې لری.

Exercise T4.

د مجلس ملگری اکثره رستوران ته ځی . پتنګ او جان هره غرمه
په کافتریا کې ډوډۍ خوری. اسد د جمعې او شنبې په ماښام
په رستوران کې ډوډۍ خوری. غلځی صاحب له خپلې کورنۍ سره
هره یکشنبې رستوران ته ځی. داود هره شپه له خپل ملگری سره
په رستوران کې ډوډۍ خوری. رابیا هره چارشنې، جمعه او شنبې
وروسته له کاره رستوران ته ځی. تریسا اکثره د جمعې په ماښام
له خپلو ملگرو سره رستوران ته ځی. امان او لیلا هیڅکله
رستوران ته نه ځی.

# Unit 7: زه به آشك را وغواړم

## Section 1: Dialogue
## لومړۍ برخه: دیالوګ

ښوونکی دې لومړی دیالوګ دوه واري داسې ولولی لکه چه سړی عادي خبرې کوی او شاګردان دې یې په غور واوری. بیا دې ښوونکی اویو تن شاګرد دیالوګ په ګډه ولولی. پدې پسې دې دوه تنه شاګردان سره جوړه شی او دیالوګ دې ولولی. نور شاګردان دې یې په غور واوری. په عین وخت کې دې ښوونکی کوشش وکړی چه د هغو زده کوونکو غلطی اصلاح کړی چه دیالوګ لولی. بیا دې ښوونکی خپله دیالوګ یو ځل بیا په وضاحت ولولی او شاګردان دې په لوړ غږ ورسره تکرار کړی. پدې پسې دې ښوونکی له شاګردانو نه وغواړی چه دوه دوه سره جوړه شی او دیالوګ دې په نوبت ولولی. ښوونکی دې کوشش وکړی چه د شاګردانو غلطۍ اصلاح کړی.

## New Vocabulary
## نوی لغات

پدې برخه کې هغه کلمات او عبارات راغلی چه شاګردان نوی ورسره اشنا کیږی. څرنګه چه ددې برخې ډېر کلمات د خوراکونو نومونه دی نو له دې امله ښایی له شاګردانو سره ددغو خوراکونو د پخولو د طریقې په باره کې هم سوالونه پیدا شی. که ښوونکی ته وخت اجازه ورکړی د زده کوونکو سوالونو ته دې ځوابونه ورکړی.

## Practice
## تمرين

پدې برخه کې دې ښووونکی لومړی شاګردان دې ته تشويق کړی چه د غذا په باره کې وغږېږی او په خاص ډول دا ووايی چه څه شې يې ښه ايسی. بيا دې ښوونکی له شاګردانو نه وغواړی چه له يو بل نه داسې پوښتنې وکړ لکه چه پدغې برخه کې راغلی دی.

دلته دې ښوونکی شاګردانو ته دداسې جملو د معنوی او نحوی څرنګوالی په باره کې يو څه توضيحات ورکړی لکه «دليلا پلو ښه ايسی.» ښوونکی دې زده کوونکو ته ووايی چه په معنوی لحاظ ددې جملې فاعل امان دی. يعنې امان له پلو سره علاقه لری. مګر د جملې نحوی فاعل «پلو» دی، ولې چه فعل له ليلا سره مطابقت لری. که پدې جمله کې د پلو په ځای دزه کلمه راشی هلته بيا فعل له «زه» سره مطابقت کوی او جمله داسې کيږی چه « دليلا زه ښه ايسم.»

## Section 2: The ⁊erfective Form of Simple Verbs.
## دوهمه برخه: دساده فعلونو تمام (perfective) شکل

پښتو درې ډوله فعلونه لری. پدې وو کې يوه ډله هغه فعلونه دی چه تمام (perfective) شکل يې له ناتمام (imperfective) شکل نه د «و» [wə́] د سابقې (prefix) د زياتولو په واسطه جوړېږی. دا فعلونه فعل د ساده فعلونو په نامه يادېږی. د فعل د تمام شکل معنا داده چه کار يا فعل بيخی پای ته رسيدلی دی. مثلاً: «احمد وګډېد» مګرد ناتمام شکل معنا داده چه کار يا عمل لا هم جريان لری. مثلاً: «احمد ګډېده» وګوری چه په پورته جملو کې د فعل تمام شکل «وګډېده» له ناتمام شکل «ګډېده» نه جوړ دی. داسې چه په ناتمام ـکل فقط «و» ورعلاوه شوی اوتمام شکل ترې جوړشوی.

ښووونکی دې دا پورته مطالب شاګردانو ته په مثالونو توضيح کړی. دغه راز دې ښوونکی شاګردانو ته ووايی کله چه له يوه فعل سره چه په زور [a] شروع شوی وی لکه [ákhləm] (اخلم د «و» [wə́] سابقه

يو خای شي نو زورا [a] او زورکی [ə] دواړه سره گډېږی او [ā]
(آ) ترې جوړېږی. مثلاً: ما. واخسته [mā wākhistə].

## Section 3: Commands
## دريمه برخه: امر

ښوونکی دې شاگردان دې ته ملتفت کړی چه د امر په حالت کې
پښتو افعال په مفرد کې په زور [a] پای ته رسېږی او په جمع کې
په ثقیله ئ [ye]. مثلاً: «ته وغږېږه» [tə wə́ghagega]
«تاسې وغږېږئ» [tase wə́ghagegəy] دغه راز دې ښوونکی شاگردانو
ته ووایی چه په پښتو کې په امریه جملو کې د نفی توری «مه» [mə]
دی. مثلاً: «مه غږېږه»
ښوونکی دې شاگردانو ته داهم ووایی چه که «مه» [mə] له داسې فعل
نه دمخه راشی چه په زور [a] شروع کيږی هلته بيا د [mə] زورکی
[ə] د فعل له اول زور [a] سره گډېږی او له دواړو نه «ا» [ā]
جوړېږی. لکه دا چه «ماخله» [mākhla]

## Practice
## تمرين

ددې برخې مطلب، په عمومی ډول دادی چه شاگردان د امريه جملو په
څرنگوالی پوه شی. ښوونکی دې په اوله برخه کې شاگردان دې ته متوجه
کړی چه په جملو کې يوه شخص ته امر شوی که له يوه نه زياتو خلکوته.
په‌دوهمه برخه کې بيا هم مطلب دادی چه شاگردان پدې پوه شی چه
که يوه شخص ته امر کېږی فعل په څه شی پای ته رسېږی او که زياتو
خلکو ته امرکېږی فعل په څه شی پای ته رسېږی. البته دمخه شاگردانو
ويل شول چه که يوه شخص ته امر کېږی فعل په زور [a]
ختميږی او ک له يوه نه زياتو خلکو ته امر کېږی فعل په ثقيله «ئ»
[əy] ختميږی. د درې يمې برخې مطلب په همدې ارتباط زياتره
تمرين او مشق دی.

## Section 4: Future Expressions
## آینده یا مستقبل

ښوونکی دې شاګردان په دې پوه کړی چه په پښتو کې په مستقبله زمانه کې له فعل سره د «به» [ba] توری استعمالېږی. لکه دا چه:

زه به ګډېږم.

زه به وګډېږم.

دغه راز دې ښوونکی شاګردان په دې پوه کړی چه په پښتو کې د نفی توری دوه دی یو «مه» [mə] دی چه په امریه جملو کې استعالېږی لکه دا چه: مه ګډېږه. بل «نه» [nə] دی چه په نورو ځایو کې استعمالېږی. مثلاً:

تور به ونه ګډېږی.

ښوونکی دې زده کوونکو ته دا هم ووایی چه که له فعل نه دمخه بله داسې کلمه راغلې چه فشار stress ـری نو «به» له هغې کلمې نه وروسته راځی. «و» [wə] وروسته له «به» نه راځی او «نه» وروسته له «و» نه راځی. مثلاً: لیلا به ونه ګډېږی.

کله که له فعل نه دمخه تر یوې نه زیاتې داسې کلمې راغلې وی‌چه stress ولری هلته بیا «به» وروسته له اولې کلمې نه راځی. لکه دا چه: احمد به لیلا سکوندی.

خو کله که په دغه راز جمله کې [wə] او [nə] هم راغلی وی، نو اول «و» [wə] راځی. بیا «نه» [nə] راځی. مثلاً: احمد به لیلا و نه سکوندی.

که له فعل نه دمخه هیڅ داسې کلمه نه وی راغلی چه فشار لری. هلته بیا اول [] راځی. بیا [] راځی . او بیا [] راځی بیا د فعل پاتې برخه. مثلاً:

و به نه ګډېږی.

که «نه» [nə] له داسې فعل سره راشی چه په زور [ā] پیل شوی وی هلته بیا د «نه» [nə] زورکی [ə] او د فعل زور [a] سره یو ځای کېږی

او «آ» [ā] جوړوي. مثلاً: كتاب ناخلم.

## Practice
## تمرين

ددې برخې مطلب له دې خبرې سره د شاګردانو بلدول دی چه «به» په جمله كې په كوم ځاى كې واقع كېږي. ښوونكى دې په دې باره كې مطلب له دې ټكى سره د شاګردانو زياتره پوره توضيحات وركړي. ددې تمرين د دوهمې برخې مطلب د شاګردانو له دې ټكى سره بلدول دی چه پدغه راز جملو كې «نه» د «و» په ارتباط څېرته راځي.

## Section 5. Reading
## څلورمه برخه: قرائت

دا برخه دې ښوونكى لومړى خپله ولولي او شاګردان دې يې په غور واوري. ښوونكى دې يې يوځل بيا هم ولولي او شاګردان دې يې په لوړ غږ ورسره تكرار كړي. په دې پسې دې ښوونكى له شاګردانو نه وغواړي چه په نوبت يې ولولي.

## New Vocabulary
## نوى لغات

په دې برخه كې هغه لغات راغلي چه زده كوونكي په همدې درس كې ور سره اشنا شوي دي. ښوونكى دې كوشش وكړي چه ددغو لغاتو دګرامري او معنوي څرنګوالى په باره كې زده كوونكو ته لازم معلومات وركړي.

## Have You Understood?
## امتحان

ددې سوالونو مطلب ددې خبرې معلومول دی چه زده کوونکی په پښتو جملو تر کومه حده پوهېږی او پوره مطلب ورنه اخستلی شی او که نه. ښوونکی دې له زده کوونکو نه وغواړی چه پو ښتنو ته شفاهی ځوابونه ورکړی.

## Section 6. Diversions
## تفريح

څرنگه چه ددې درس یو هدف دادی چه شاگردان له افغانی خواراکونو او د هغو له پخلی سره اشنا کړی، نو دا به په ځای وی چه ښوونکی له شاگردانو نه وغواړی چه په خپلو کورو کې له دې ریسپی نه استفاده وکړی او افغانی ډوډۍ پخه کړی. دغه راز که ممکنه وی ښوونکی دې زده کوونکی یوه افغانی رستوران ته بوزی او هلته دې د افغانی مینو او خوراکونو په باره کې مجلس ور سره وکړی. ښه به دا وی چه شاگردانو ته د خبرو او سوالونو وخت ورکړل شی او ښوونکی دې لازم توضیحات ورکړی.

## Workbook Exercises

Exercise T1.

۱. هر څوك به مېلمستيا ته ور وغواړی.
۲. داود به بير واخلی؟
۳. ليلا او زرينه به په بازار كې سودا واخلی؟
٤. اسد به پسه چېرته واخلی؟
٥. بير به وڅكی.
٦. هر څوك به په مېلمستيا كې افغانی جامې واغوندی.
۷. رابيا به په مېلمستيا كې اتڼ وكړی.

۸. لیلا او زرینه به قابلی پلو پوخ کړی.
۹. داود ته به تېلیفون وکړو؟
۱۰. لندی به ووایم.

Exercise T2.

۱. په افغانی رستوران کې ناست یو. ډوډی به راوغواړو. داود به قابلیپلو را وغواړی. د جون پسه غوښه نه ایسی. قابلی پلو به ونهخوری. سلا ته به راوغواړی. زه به کباب را وغوارم.

۲. په کافتریا کې ناست دی. داود به بیر وڅکی. تریسا او جون به بیر ونه څکی. کافی به وڅکی.

۳. تریسا، اسد او پتنګ په کابل کاروان کې دی. تریسا به زمرد چلو راوغواړی. اسد به آشك راوغواړی. پتنګ به قابلی پلو راوغواړی.

Exercise T3.

۱. اسد به د سې شنبې په ماښام پسه واخلی.
۲. سبا ماسپښین به واوره اورېږی.
۳. د چارشنبه په سهار به سې کورنی موټر واخلی.
٤. نن ماسپښین به خپل ملګری وګورم.
۵. پتنګ به د شنبه په ماښام د امان او لیلا په کور کې ډوډی وخوری.
٦. د پنجشنبه په مازدیګر به داود له خپلې ملګرې سره بیر وڅکی.
۷. د جمعې په ورځ به لیلا او زرینه پخلی وکړی.
۸. هر څوك به د شنبه په ماښام د لیلا او امان په مېلمستیا کې پرېمانه ډوډی وخوری.
۹. د دوشنبه په ماښام به مې ملګرې وګورم.
۱۰. د یکشنبه په ورځ ښاښت مهال به خپل خوریی راولیږی.

Exercise T4.

۱. ودرېږه چه دمه وکړو.

۲. بیر مې کورته ولېږئ.

۳. نن رخصتی ده. درس مه لولئ.

٤. راځه چه بیر وڅکو.

٥. سبا امتحان لرې. درس ولوله.

٦. داود او جون مېلمستیا ته راولېږه.

۷. د امتحان په باره کې مه غږېږئ.

۸. مه ذرېږئ.

۹. اتن را وښیئ .

۱۰. پرېمانه قابلی پلو پوخ کړئ.

# Unit 8: په پله تېر شه.

## Section 1: Dialogue
## لومړی برخه ديالوګ

ښوونکی دې د ديالوګ د تدريس په برخه کې له هغو لارښوونو نه استفاده وکړي چه د پخوانو ديالوګونو په باره کې شوي وې. په عين وخت کې دې ښوونکی زده کوونکو ته په افغانستان په تېره بياپښتنو کې د مېلمه پالنې په باره کې لنډ توضيحات ورکړي او دادې ورته په ډاګه کړي چه هلته او دلته په امريکا کې د مېلمه پالنې مفهوم فرق سره لري. مثلاً په پښتنو کې ډېرځله مېلمه په سرې ورپېښېږي اما دلته مېلمه غوښتل کېږي او يا د قبلی خبر په واسطه منل کېږي.

### New Vocabulary
### نوی لغات

په دې برخه کې ټولې هغه کلمې او فقرې راغلی چه زده کوونکی دمخه نه وی ور سره اشنا کېږي.

### Practice
### تمرين

ښوونکی دې له شاګردانو نه وغواړي چه دا تمرينونه له هغه هدايت سره سم حل کړي چه په همدې برخه کې ور کړل شوی دی.

## Section 2: Ordinal Numbers
ترتیبی اعداد:

دلته دې ښوونکی زده کوونکو ته دا خبره توضیح کړی چه ترتیبی اعداد اکثره له اصلي اعدادو نه د «ام» په زیاتولو جوړېږی.
اما په ځېنو اعدادو کې د «ام» د زیاتولو نه علاوه ځېنی نور بدلونونه هم راځی. لکه دا چه له «درې» سره له «ام» نه مخکې «ی» هم علاوه کېږی او «دریم» کېږی. دغه راز د «اوه»، «اته» او «نه» د پای زورکی په «زور» بدلېږی او «اوم، اتم، نهم» کېږی. یوازې «درې» په ځېنو لهجو کې د حالت دپاره نه تصریف کېږی.
ترتیبی اعداد ټول د جنس او حالت دوارو دپاره تصریف کېږی.
لکه داچه :
څلورم کتاب
څلورمه کتابچه
د څلورم کتاب
د څلورمې کتابچې
د څلورمو کتابو
د څلورمو کتابچو

### Practice
تمرین

ددې برخې مطلب دادی چه زده کوونکی د اعدادو له استعمال سره زیاتره بلد شی. ښوونکی دې له زده کوونکو نه وغواړی چه اعداد ولولی او که ممکنه وه خپلې دې په جملو کې استعمال کړی.
بیا دې ښوونکی زده کوونکو ته موقع ورکړی چه «دریم» تمرین عملی کړی. او یو بل ته ووایی چه په دې یا هغې کوڅې کې چپ یا ښی لاس ته تاو شه. لکه دا چه: په څلورمه کوڅه کې چپ لاس ته تاو شه .

بیا دې ښوونکی زده کوونکو ته ووایي چه ترتیبي اعداد تر دیرشو
پورې حساب کړي. لکه دا چه اول، دوهم او داسې نور.

## Sections 3 and 4: Derivative Verbs
## درې یمه او څلورمه برخه: اشتقاقی افعال

په دې برخه کې د اشتقاقي اویا هغو افعالو اشکال تو ضیح شوی چه له یوه صفت، قید او یا اسم او یوه معاون فعل (auxiliary) نه جوړ شوی دی. لکه داچه :

کور سپین کړه.

دیوال سپین کړه.

دیوال رنګ کړه.

د اولې جملې فعل «سپین کړه» له یوه صفت «سپین» او معاون فعل دریمې جملې فعل «رنګ کړه» له یوه اسم «رنګ» او یوه معاون فعل «کړه» نه جوړ شوی دی. په حال زمانه کې کوم معاون فعل چه له ناتمام (imperfective) لازمی (intransitive) اشتقاقی فعل سره راځی هغه «کېږ» دی او کوم معاون فعل چه له ناتمام متعدی اشتقاقی فعل سره راځی هغه «کو» دی. لکه دا چه:

پتنګ رانژدې کېږي.

پتنګ مېز را نژدې کوي.

کوم معاون فعل چه له تمام لازمی اشتقاقی فعل سره راځی هغه «شـ» دی او کوم معاون فعل چه له متعدی تمام اشتقاقی فعل سره راځی هغه «کړ» دی. ښوونکی دې دا پورته مطالب زده کوونکو ته په مثالونو توضیح کړي.

دغه راز دې ښوونکی زده کوونکو ته داهم ووایي چه که په حال زمانه کې هغه صفت چه داشتقاقی فعل لومړی برخه جوړوی په صامت توری (consonant) ختم شوی وی نو په عمومی ډول د معاون فعل «ك» د ترکیب په وخت کې غورځېږي. مثلاً: «سپین» په صامت توری «ن» ختمېږي. نو کله چه له معاون فعل سره یو ځای شي د معاون فعل «ك» لوېږي «سپینول» ویل کېږي نه دا چه «سپین کول».

مگر کله که صفت په صایت توری یا (vowel) ختم شی هلته بیا د
معاون فعل «ك» نه غورخیږی. مثلاً: د «پورته» کلمه په واول ختمیږی
او ځکه نو کله چه له معاون فعل سره یو ځای شی د معاون فعل «ك»
نه غورځېږی یعنی «پورته کول» ویل کېږی نه دا چه «پورتول»
که په حال زمانه کې د نفی کلمه «نه» له اشتقاقی فعل سره راشی،
د اشتقاقی فعل د لومړی برخې مخې ته واقع کېږی لکه داچه:
احمد کور نه سپینوی.
کله که داشتقاقی فعل لومړۍ برخه داسې کلمه، وی چه دعدد او جنس
دپاره تصریفېږی لکه «پوخ» چه نور اشکال یې «پخه» «پخې» او
«پخو» دی. ددغه راز کلمو ریښه له معاون فعل سره یو ځای کېږی او
په دغو کلمو کې ریښه د کلمې د جمع غیر اصلی شکل
منفی «و» دی. مثلاً:
د «پوخ» د جمع غیر اصلی شکل «پخ» دی او ځکه نو ددې کلمې
د «پخ» برخه له معاون فعل سره یو ځای کېږی. لکه دا چه:
زه ډوډۍ پخوم.
په امریه جملو کې هم د نفی توری «مه» له فعل نه سمدستی دمخه
راځی لکه دا چه :
ډوډۍ «مه پخوه». «مه» د فعل له ناتمام شکل (imperfective) سره
راځی او له تمام شکل سره نه راځی. مثلاً:
«ډوډۍ مه پخوه» ویل کېږی. «ډوډۍ مه پخه کړه» څوك نه وایی.
که دمتعدی اشتقاقی فعل لومړۍ برخه د جنس او عدد دپاره تصریف
شی هلته بیا د فعل دغه برخه له مفعول سره مطابقت کوی. لکه دا چه:
زه به ډوډۍ پخه کړم.
زه به پلو پوخ کړم.
که په جمله کې مفعول نه وی نو هلته بیا د فعل لومړۍ برخه د فاعل
دپاره تصریف کېږی. لکه دا چه:
دی دې تېر شی.
دا دې تېره شی.
که په آینده زمانه کې فعل تمام (perfective) وی هلته بیا دنفی توری

«نه» داشتقاقی فعل له اولي برخې نه وروسته او له دوهمې برخې
یعنې معاون فعل نه وړاندې راځي. لکه دا چه:
دوډی به پخه نه کړم.

## Practice
## تمرین

د تمرین د اولې او دوهمې برخې مطلب دادی چه زده کوونکی د
اشتقاقی فعل له اشکالو سره زیاتره بلد کړی.
د درې یمې او څلورمې برخې مطلب دادی چه زده کوونکی له دې
سره زیات اشنا کړی چه یو چا ته لاره ښودل ور ښودل کېږی.

## Section 5: Reading
## پنځمه برخه: قرائت

په دې برخې کې مطلب د زده کوونکو د قرائت او لوستلو تقویه کول
دی. ښوونکی دې له شاګردانو نه وغواړی چه یو یو یې په لوړ غږ ولولی
او نور یې واوری. په عین زمان کې دې ښوونکی د شاګردانو د
قرائت سبك او تلفظ ور اصلاح کړی.

## New Vocabulary
## نوی لغات

په دې برخه کې ددې درس ټول لغات د الفبا په ترتیب داسې ثبت
شوی لکه په قاموسونو کې چه ثبتېږی.

## Have You Understood?
امتحان

ددې برخې مطلب ددې خبرې معلومول دی چه شاګردان په پښتو عباراتو او جملو څومره پوهېږی او دا چه د «قرائت» په مطلب پوره پوهېدلی دی او که نه.

## Section 6: Diversions
تفريح

په پوښتنه سرې مکې ته رسېږی
ددې متل مطلب دادی چه سړی په پوښتنه هر ځای پیدا کولای شی. او په حقیقت کې په افغانستان او نوره دری یمه نړی کې چه مشخصې پتې معمولاً نه وی په کې معلومې او د ښارونو او سیمو نقشې هم نه په کې پیدا کېږی، خپله د پوښتنې اهمیت ښیی. ښوونکی دې په دې باره کې زده کوونکو ته نور لازم توضیحات هم ور کړی.

## Workbook Exercises

Exercise T1.

a. اسد دوه اسونه لري.

b. ليلا په څلورم ټولګی کې ده.

c. هغه شپږم کور زما دی.

d. ملنګ درې خره واخستل.

e. په پنځمه څوکۍ مه کښېنه.

f. نه ورځې په کابل کې تېروی.

g. په سرویس کې دوولس ښځې سپرې دی.

h. امان شل ډالره راکړل.

i ليلا شپاړس کتابچې راوړې.

j. دا د پری نهم زوی دی.

# Unit 9: داالته کښینه.

## Section 1: Dialogue
## لومړۍ برخه: دیالوګ

ښوونکی دې ددیالوګ د تدریس په برخه کې له هغې لارښودنې نه استفاده وکړی چه په پخوانو فصلونو کې شوې ده. خو څرنګه چه دا دیالوګ د کوربه او مېلمه تر مېنځه دی، نو له دې امله ښوونکی باید زده کوونکو ته په افغانستان او امریکا کې د مېلمه د مفهوم او توپیر په باره کې لنډ څه ووایي او که وخت موجود وی په افغانستان کې دې د مېلمه پالنې د خصوصیاتو په باره کې هم لنډ توضیحات ورکړی.

### New Vocabulary
### نوی لغات

په دې برخه کې هغه لغات او عبارات را اخیستل شوی چه زده کوونکی دمخه نه وو ور سره مخامخ شوی. څکه نو ښوونکی باید ددغو لغاتو عباراتو په برخه کې د شاګردانو ستونزو ته توجه وکړی.

### Practice
### تمرین

ددې تمرین مطلب دادی چه زده کوونکی دیالوګ ښه زده کړی. ښوونکی دې له شاګردانو نه وغواړی چه هغه څه وکړی چه پدې برخه کې ورنه غوښتل شوی دی.

## Section 2: Doubly Irregular Verbs
## دویمه برخه: بې قاعدې افعال

پدې برخه کې هغه افعال چه د دوه اړخیزه بې قاعدې افعالو په نامه یاد شوی. لومړی په جملو کې استعمال شوی او بیا توضیح شوی دی.

ښوونکی دې ددغه راز افعالو په برخه کې د زده کوونکو توجه دا لاندې ټکو ته ور وګرځوی او که لازمه وی پدې باره کې دې زیاتره توضیحات ور کړی.

۱ـ دوه اړخیز بې قاعدې افعال هغه دی چه «تمام» شکل یې په منظم شکل نه جوړیږی.

د ځینو دوه اړخیزو بې قاعدې افعالو تمام شکل داسې جوړیږی چه د فعل په ریښه کې بدلون راځی. مثلاً په لاندې جملو کې د عین فعل د ناتمام شکل ریښه «ت» ده او د تمام شکل ریښه یې «لاړ» ده.

احمد ته.

احمد لاړه.

مګر د ځینو نورو دوه اړخیزه بې قاعدې افعال تمام شکل فقط د فشار د موقعیت په تغییر جوړیږی. (دا افعال مونږ د مرکبو افعالو په نامه هم یاد کړی دی.)

مثلاً په لاندې جملو کې د عین فعل په ناتمام شکل کې فشار د فعل په وروستی سېلاب راغلی دی او په تمام شکل کې په اول سېلاب.

احمد کښېناسته.

احمد کښېناسته.

د ځینو نورو دوه اړخیزه بې قاعدې افعالو تمام شکل د اسې جوړیږی چه هم د فعل په ریښه کې بدلون راځی او هم د فشار موقعیت تغییر کوی. (دا افعال مونږ د مرکبو افعالو په نامه یاد کړی دی.)

مثلاً په لاندې جملو کې د عین فعل د ناتمام شکل ریښه یوه ده او د تمام شکل ریښه یې بله ده. دغه راز فشار په ناتمام شکل کې

د فعل په وروستی سپلاب راغلی او په تمام شکل کې د فعل په
لومړی سپلاب
احمد راته.
احمد راغي.

## Practice
## تمرین

ددې برخې مطلب دادی چه شاګردان له دوه اړخیزه بې قاعدې
افعالو سره د نفی د کلمو «مه» او «نه» له استعمال سره پوره بلد
شی. ښوونکی دې د تمرین د سرته رسېدلو په وخت کې د نفی
د کلمو استعمال ته خاصه توجه وکړی او شاګردان دې، دې ته
متوجه کړی چه «مه» او «نه» د دوه اړخیزه بې قاعدې افعالو له
تمام شکل سره څنګه استعمالیږی او له نا تمام شکل سره څنګه
استعمالیږی.

## Section 3. Future Expressions
## درېیمه برخه: په جملو کې د «به» استعمال

## Examples
## مثالونه

پدې برخه کې د دوه اړخیزه بې قاعدې افعالو مثالونه راغلی دی.

## Practice
## تمرین

ددې تمرین مطلب شاګردانو د دوه اړخیزه بې قاعدې د افعالو
سره د شاګردانو زیاتره بلدول دی.

## Section 4: Reading
## څلورمه برخه: قرائت

پدې برخه کې په پښتنى او امريکايى ټولنه کې دميلمه پالنې په توپير بحث شوى. ښوونکى کولى شى چه د امکان او ضرورت په صورت کې په دې ارتباط نور توضيحات هم شاگردانو ته ور کړى.

### New Vocabulary
### نوى لغات

په دې برخه کې ددې درس ټول لغات د الفبا په ترتيب داسې ثبت شوى لکه په قاموسونو کې چه ثبتېږى.

### Have You Understood?
### امتحان

دا برخه په حقيقت کې يو کوچنى امتحان دى.

## Section 4: Diversions
## څلورمه برخه: تفريح

ښوونکى دې شاگردانو ته ددغو متلونو معنا توضيح کړى او دا دې ورته ووايى چه پښتانه ميلمه پالونکى دى خو متکبر سړى په خپل کور څه چه بلکه کلى کې هم نه غواړى. دغه راز پښتانه ميلمه د خداى دوست بولى. خو بې وخته ميلمه سپېره تکليف گڼى او په ورتگ يې که خپه نشى نو خوشحاليږى هم نه.

## Workbook Exercises

Exercise T1.

۱. کتاب راکړه.
۲. پتنګ سبا ته خبرېږي.
۳. په اسد به ډېر مېلمانه پېښ شي.
۴. رابیا ډوډۍ برابروي.
۵. د اسد پلار هر وخت، مسافر و ته شپه ورکوي.
۶. اسد ژر خبر کړه.
۷. امان او رابیا به اسد ته موټر ورکړي.
۸. هغه بل ټېلیفون راکړه.
۹. اسد مسافر ته شپه نه ورکوي.
۱۰. ډوډۍ به ژر برابره شي.
۱۱. کتاب معلم صاحب ته ورکړه.
۱۲. اسد مه خبروه.

Exercise T2.

۱. اسد دوه بجې راځي.
۲. پتنګ به درې بجې راشي.
۳. رابیا به ماښام ته راشي.
۴. اسد به غرمه راورسېږي.
۵. لیلا پنځه بجې ډوډۍ پخوي.
۶. مېلمه مازدیګر رارسېږي.
۷. اسد سهار وخته روانېږي.
۸. سبا نه ناوخته مه راځه.
۹. لیلا څلور بجې کتابخانې ته ځي.
۱۰. ډوډۍ به نوه بجه برابره شي.
۱۱. اسد ماښام مکتب ته ځي.
۱۲. مونږ پنځه بجې رستوران ته ځو.
۱۳. شاګردان اته بجې راځي.

١٤. رابیا ماښام ته د پتنګ کره راځی.
١٥. اسد نن کور ته نه ځی.

Exercise T3.

١. د اسد پلو او چلو ښه اېسېږی.
٢. پتنګ یاپه روغتون کې وی او یا په کور کې.
٣. امان یا کار کوی او یا درس وایی.
٤. لیلا هم کار کوی او هم ډوډی برابروی.
٥. اسد به یا بادام راوړی او یا پسته.
٦. اسد یا دوه بجې راځی او یا درې بجې.
٧. امان هم کافی څکی او هم کوک.
٨. رابیا یا اوبه څکی او یا بیر.
٩. امان یا سهار ډوډی خوری او یا ماښام.
١٠. پتنګ هم کور لری هم اپارتمان.
١١. اسد به هم کتاب راوړی او هم قلم.
١٢. جان یا په موټر کې ځی او یا په بس کې.
١٣. اسد یا دلته وی او یا هلته.
١٤. رابیا هم دلته کښېنی هم هلته.
١٥. امان هم موټر اخلی هم کور.

Exercise T4.

| | | | |
|---|---|---|---|
| ١. لږ تر لږه | ٦. تدرکوم | ١١. تر اوسه | ١٦. مهم |
| ٢. پېښېږی | ٧. دلته | ١٢. په خیر | ١٧. نشته |
| ٣. ضرور | ٨. فرق سره | ١٣. خیریت | ١٨. وطن |
| ٤. خپله یې | ٩. بله خبره | ١٤. مسافر | ١٩. خبر |
| ٥. لکه | ١٠. دښمن | ١٥. برابروی | ٢٠. کوربه |

# Unit 10: اسد به مي بوزی

## Section 1: Dialogue
## لومړی برخه: دیالوګ

ښوونکی دې ددیالوګ د تدریس د طریقې په برخه کې له هغو لارښودنو نه استفاده وکړی چه په اولو فصلونو کې ورکړل شویدی.

### New Vocabulary
### نوی لغات

په دې برخه کې هغه کلمات او عبارات ثبت شوی دی چه شاګردان په همدې درس کې ورسره بلدیږی او د مخه یې اشنایی نه ورسره لرله.

### Practice
### تمرین

ددې تمرین مطلب د هغو نحوی ترکیباتو او یو شمېر کلماتو په سحیح استعمال باندې د زده کوونکو زیاتره پوهېدل دی چه په دې فصل کې راغلی دی. ښوونکی دې هغه څه په صنف کې عملی کړی چه دلته ویل شوی دی.

## Section 2: Weak Pronouns
## دوهمه برخه: ضعیف ضمیرونه

ښوونکی دې زده کوونکو ته دا څرګنده کړی چه په پښتو کې، عموماً دوه ډوله ضمیرونه موجود دی. یوه ډله هغه ضمیرونه دی چه فشار stress سرې واقع کیږی، او کېدې شی چه جمله پرې پیل شی. دا قوی ضمیرونه strong pronoun دی. په لاندې جمله کې «زه» قوی ضمیر دی.

زه کورته ځم.
بلـه ډله هغـه ضميرونه دی چه فشـار نه پرې واقع کېږی او د جملې
په سر کې نه شي راتلی. دا ضعيف ضميرونه weak pronouns
دی. په لاندې جمله کې «مې» ضعيف ضمير دی.
پتنگ مې پېژنی.
د ضميرونو دا دواړه ډلې د شاگردانو د درسی کتاب په همدې فصل
کې په مفصل ډول څېړل شوی دی.
کوم ضعيف ضميرونه چه پرته له اضافی حـالت نه په نورو غير اصـلی
حالاتو oblique cases کې راځی هغه «را»، «در»، «ور» دی.
کلـه چه دهغـو قوی ضميرونو پر ځای چه په غير اصـلی حالـت کې
راځی ضعيف ضميرونه استعمال شی، هغه مغېره آدت چه له قوی ضمير
نه دمخه راغلی وی، هغـه بيخی سقوط کوی او له ضعيف ضمير مثلاً
«را» سره هيڅ نه واقع کيږی. امـا کوم آدت چه له قوی ضميـر نه
وروسته راشی هغه تل او هرومرو له ضعيف ضمير سره واقع کېږی.
دا مطلب په لاندې دوو جمـلو کې څرگند شوی. په اولـه جملـه کې
قـوی ضمير «ما» په غير اصلی حـالت کې واقع شوی او په دوهمـه
جمله کې ضعيف ضمير «را» په غير اصـلی حالت کې واقع شوی دی.
امان له ما سره ځی.
امان راسره ځی.
کوم ضميرونه چه په اصلی حالت کې واقع او د جملې فاعـل وی هغه
معمولاً سقوط کوی او ځای يې صفر نيسی. لکه په لاندې جمله کې:
«کور ته ځم» چه معنا يې «زه کور ته ځم» ده.
کوم ضعيف ضميرونه چه په اصلی حالت کې واقع وی هغه د شکل په
لحاظ له اضافی ضميرونو سره عين شی دی. لکه په دا لاندې جملو کې:
تور مې وينی.
ورور مې راغی.
کلـه که دداسې قـوی ضميـر پـه ځـای ضعيف ضميـر راشـی چـه
داسم ظرف ځـای يې نيولی وی، هلتـه بيا کېـدې شی چه دوه شيه
واقع شی. يو دا چه د اسم ظرف په ځای قوی ضمير راځی. بلـه دا

چه ضمير بيخي سقوط وکړی او يوازې آدات د ضمير کار ورکړی دا
مطلب په لاندې جملو کې څرګند شوی دی. په اوله جمله کې د کلا
پر ځای د «هغې» ضمير راغلی او په دوهمه جمله کې د کلا په ځای
هيڅ ضمير نه دی راغلی او يوازې «پکښې» د «په کلا کې» معنا لري.
کومه کلا چه خانو اکا جوړه کړې وه په هغې کې ګيدړې اوسېږي.
کومه کلا چه خانو اکا جوړه کړې وه ګيدړې په ې اوسېږي.
اما کله کله او په ځينو لهجو کې بيا د «په کلا کې» پر ځای «ورکې»
هم ويل کېږي. لکه په دا لاندې جملو کې:
کومه کلا چه خانو اکا جوړه کړې وه ګيدړې ورکې اوسېږي. په دې
صورت کې بيا «په» چه له کلا نه دمخه راځي له «ور» سره هيڅکله
نه واقع کېږي. يوازې «کې» ورسره واقع کېږي.

## Position

په جمله کې دهغو ضعيفو ضميرونو موقعيت چه دفاعل او د
صريح مفعول په حيث واقع کيږي

دغه ضميرونه د جملې له هغه لومړني عنصر نه وروسته راځي چه فشار
پرې واقع کېدې شي. مثلاً:
احمد مې وهي.
مه مې وهه.
ور يې کړه.
اما کوم ضميرونه چه د غير صريح مفعول په حيث استعماليږي هغه
د آدت له توری سره يو ځای په ډېرو لهجو کې له فعل سره جخت
واقع کېږي. مثلاً:
اسد سبا ته په لاری کې مزار ته نه راسره ځي.
په دا وروستی جمله کې «راسره» له فعل سره جخت واقع شوی اما
په ځينو لهجو کې دغه ضميرونه په جمله کې هلته واقع کېږي چه د
هغوی معادل قوی ضمير او يا اسم واقع کېږي. لکه دا چه:
زه ورسره مکتب ته نه ځم.
په دې جملو کې «ورسره» له فعل سره جخت نه دی واقع شوی، بلکه

له فعل نه دېر وړاندې او هلته واقع شوی چه قوی ضمير واقع کېږي.
په لاندې جملو کې قوی ضمير په هغه موقعيت کې واقع شوی لکه په
پوره جمله کې چه «ور» واقع شوی دی.
زه له هغه سره مکتب ته نه ځم.

## Practice

## تمـــرين

دې تمـــرين مطلب د ضعيـــفو ضميرونو او هغـــو عنـــاصرو سره د
شـــاگـردانو زياتره بلدول دی چه دا ضمـــيرونه له هغـــو نه وروستـــه
واقع کېږي. ښوونکی کولای شي شاگـردانو ته نورې دغه راز جمـــلې
هم د تختې پر مخ وليکی او ورنه وغـواړي چه ضميرونه او د هغـــوی
موقعيت په کې تشخيص کړي.

## Section 3: The Order of Floating Particles in Sentences

## درې يمه برخه: په جمله کې د ضعيفو ضميرونو او ځينو اداتو موقعيت او د هغو ترتيب

کله چه «مې»، «مو»، «دې» او «يې» له يو بل سره يو ځای واقع
شي هلته «دې» له «يې» نه دمخه راځی او «مې» او «مو» هـــم لـــه
«دې» نه دمخه راځی او هم له «يې» نه.
که په جمله کې د «به» آدت particle لـــه دغـــو ضـــميرونـــو سره يو
ځای راشي «به» تر ټولو دمخه واقع کيږي. مثالونه په لاندې جمـــلو
کې راغلی دی.
ورور مې دې پيژني.
ورور مو دې پيژني.
ورور مې يې پيژني.

ورور دي يې پېژني.
ورور به دي يې وپېژني.

## Practice
## تـمـرين

ددې تمرين مطلب بيا هم په جمله کې د ضعيفو ضميرونو او «به» له موقعيت، ترتيب او معنا سره د زده کوونکو زياتره بلدول دی. ښوونکی کولای شي نور مثالونه هم زده کوونکو ته ورکړي.

## Floating Particles with Stess-shifting Verbs
## مرکب افعال او ضعيف ضميرونه

کله که له مرکب فعل نه دمخه داسي کومه کلمه نه وی راغلي چه فشار پري واقع کېدای شي او فعل «تمام» perfective شکل ولري هلته ضعيف ضميرونه او «به» د فعل له لومړي سيلاب نه وروسته چه فشار پري واقع دی راځي. لکه:

بو مي زه.

بو به مي زی.

کله کـه په دغسي جمـلو کي د نفی کلـمی «نه» او «مه» واقع شي، «نه» او «مـه» د فعـل په منـځ کي له ضعـيفو ضميرونو او «به» نه وروسته واقع کيږي. مثلاً: بو به مي نه زی.

خو کله که فعل «ناتمام» imperfective شـکل ولـری او نـور کلـمات د فعـل نه دمخه نه وی راغلی، هلـته بيا اول «نه» او «مه» راځی. بيا ضعيف ضميرونه او [ba] راځی. بيا فعل راځی.

لکه په لاندې جمـلو کي:

نه به يې بيايی.

مه يې بيايه.

فعـلکله که مرکب فعل «ناتمام» وی او يوازي ضعيف ضمـيرونه او «به» ورسره واقع شی هلته بيا ضعيف ضميرونه او «به» وروسته له

نه راځي. لکه:
بيايي مې.
کښېنوې به يې.

## Practice
## تمـــرين

ددې تمرين مطلـب له مرکبو افعـالو سره د ضعيفو ضمـيرونو «به» او د «نفيي» د کلمو «نه» او «مه» له استعمال سره د زده کوونکو زياتره بلدول دي.
دا مطلب د ښوونکي زياتره توجـه او له زده کـوونکو سره د هڅه زياتره مرسته ايجابوي او ښايي چه شاګـردان به زياتره توضيحاتـو ته ضرورت ولري.

## Section 4: Reading
## څلورمه برخه: قرائت

ددې بـرخې مطلـب د زده کـوونکو دروانـو لـوستـلو د قابـليـت تقويه کول او د افغـانانو له ژوند سره د هغوی زياتره اشنا کول دي.

## New Vocabulary
## نـوی لغـات

په دې برخـه کې هغه لغـات د خپـل ګـرامری مـاهـيت په اساس لست شوی چه شاګردان نوی ورسره بلد شوی دی.

## Section 5: Diversions
## پنځمـه برخـه: تـفــريح

ښوونکی دې شاګردانو ته دا خبره څرګنده کړی چه ددې تفريح اوله برخه يوه لنده کيسه ده او ملا نصرالدين ته منسوبه ده. او دوهمـه

برخه يې عام متل دی. دا دواړه په داسې وخت کې استعمالېږی چه له چا نه کوم بيخي معلوم شي ورك وی او يا يې په کوم ښکاره حقيقت او خبره باندې سر نه خلاصيږی.

## Workbook Exercises

### Exercise T1.

١. ملګری مې پښتانه دی.
٢. خوېندې مې دې ګوری
٣. اسد مې وړونه بيايي.
٤. مور مې موټر نه لري.
٥. تربرونه مې په کابل کې کار کوی.
٦. له ښځې سره مې اوسېږم.
٧. ډېر زيات خلك مې كور ته راځي.
٨. ښوونکی مې يې ګوری.
٩. بهرام خان به مې سبا ته پلار وګوری.
١٠. ليلا او خپله ملګرې مې په کور کې ناستې دي.

### Exercise T2.

١. ورور به دې يې سبا ته وګوری؟
٢. ښځه دې پرستاره ده؟
٣. له پلار سره دې مه اوسېږه.
٤. راځه چه په موټر کې دې بوزو.
٥. مېلمه دې په صنف کې ناست دی.
٦. د پښتو درس ته ځې؟
٧. له کوره به دې مازديګر روان شو.
٨. اسد دې ورور نه بيايي.
٩. راځه چه له کورنۍ سره دې ډوډۍ وخورو.
١٠. د غلځی صاحب ښځه دې مېلمستيا ته بيايي؟

Exercise T3.

۱. کورنۍ يې ډېره لويه ده.
۲. کور يې په شلګر کې دی.
۳. خوېندې او ورونه يې هم اسد او ليلا غوندې دي؟
٤. کور يې د بهرام خان په کلا کې دی.
۵. زه يې له ملګری سره درس لولم.
٦. د اسد پلار يې باغ اخلي.
۷. اخبار به يې ولولم.
۸. مور به مې يې خوېندې وګوري.
۹. سبا نه بل سبا به يې ملګری کومك راسره وکړي.
۱۰. زه يې په موټر کې سپرېږم.

Exercise T4.

۱. اسد مې بيايي.
۲. پلار به مې دې بوزی.
۳. استاذان مې يې بيايي.
٤. تربور به مو دې بوزی.
۵. مور مو يې بيايي.
٦. ښوونکی به مو دې بوزی.
۷. تره مې يې بيايي.
۸. ملګری به مې دې بوزی.
۹. استاذ مو يې بيايي.
۱۰. ماما به يې بو نه څي.

# Unit 11: قیمت یې څو دی؟

## Section 1: Dialogue
## لومړۍ برخه :دیالوگ

ښوونکی دې د دیالوگ د تدریس په برخه کې له هغو لارښودونو نه استفاده وکړي چه په لومړیو څو فصلونو کې شوي دي. اما ددې دیالوگ د کلتوري اړخ په باره کې دې په افغانستان کې د خرید او فروش د عنعنې او د نرخونو د جګړې او چنې وهلو په باره کې هم که لازم شي مناسب معلومات زده کوونکو ته ورکړي.

### New Vocabulary
### نوي لغات

په دې برخه کې د نورو ټولو فصلونو په شان هغه لغات، اصطلاحات او عبارات ثبت شوي چه شاګردان په همدې فصل کې نوي ورسره مخامخ شوي دي.

### Practice
### تمرین

ښوونکی دې له زده کوونکو نه وغواړي چه دا تمرینونه د همدې برخې له هدایتونو سره سم عملي کړي.

## Section 2: Numbers beyond Thirty
## دوهمه برخه : له شلو نه پورته اعداد.

ښوونکی دې په دې برخه کې شاګردان په خاص ډول دې ته متوجه کړي چه کوم اعداد چه له «ویشت» نه دمخه راځي د هغو یو شمېر تلفظ ددغه اعدادو له هغه تلفظ نه چه په مستقل ډول کېږي فرق لري

مثلاً: د انګريزی three د معادل پښتو عـدد په مستقل ډول درې تلفظ کېږی. خـو کله چه لـه «ويشت» سره يـو ځـای راشی هـلته بيـا «در» تلفظ کېږی.

## Practice
## تمرين

ښوونکی دې له شاګردانو نه وغوارې چه دا تمرينونه په صنف کې عملی کړی.

## Larger Numbers
## لوی اعداد

ښوونکی دې په دې برخه کې زده کوونکی دې ته متوجه کړی چه په جمع کې «سل» د «سو» په بڼه تلفظ کيږی او بيا د جمع علامه يعنی «ـه» ورسره علاوه کيږی او «سوه» ترې جوړيږی. لکه «درې سوه» اما د «زر» کلمه د جمع په وخت کې په خپل حال پاتې کېږی او يوازې د جمع علامه «ـه» پرې علاوه کېږی او «زره» ويل کېږی. لکه: «درې زره»

## Practice
## تمرين

دا تمرينونه دې څنګه چه ترتيب شوی هغسی عملی کړی شی.

## Section 3: Summary of Strong Pronouns
## درېيمه برخه: د قوی ضميرونو خلاصه

په دې جدول کې هغه ضماير ځای شوی چه مونږ قوی ضميرونه بللی دی. دا ضميرونه دمخه تعريف شوی دی. اما بايد وويل شی چه دا ضميرونه، معمولاً هغه وخت استعمالېږی چه ويونکی وغواړی په

ضمیر فشار واچوی. لکه دا چه:
«دی» نه وایی «ته» وایی.
که په ضمیر باندې د فشار د اچولو ضرورت نه وی هلته بیا، معمولاً
ضعیف ضمیرونه استعمالیږی. لکه دا چه:
ورور «مې» در څی. گوری «دې»
ښوونکی دې زده کوونکی دې ته هم ملتفت کړی چه د غایب ضمیر
فشار په دوهم سیلاب وی. لکه: «هغه» وویل.

## Practice
## تمرین

ددې تمرین مطلب له قوی ضمیرونو سره د زده کوونکو زیاتره
بلدول دی.

## Section 4: Demonstratives
## څلورمه برخه: اشاری ضمیرونه

ښوونکی دې زده کوونکی دې ته ملتفت کړی چه په پښتو اشاری
ضمیرونو کې د فاصلې خبره ډیره مهمه ده. په دې معنا چه «دغه»
ډیر نژدې شی ته او «هوغه» بیخی لری شی ته استعمالیږی. «هغه»
بیا داسی شی ته استعمالیږی چه له یوه بل شی نه یو څه لری
واقع وی.

## Practice
## تمرین

ددې تمرین هدف د قوی ضمیرونو له استعمال او معنا سره د
شاگردانو زیاتره بلدول دی.

## Section 5: Reading
## پنځمه برخه: قرائت

که څه هم چه د قرائت اصلی مطلب د شاګردانو د پښتو د لوستلو د مهارت تقویه کول دی. خو په عین زمان کې یې په افغانستان کې د خرید او فروش له عنعنې سره هم بلدوی او دا ورته وایی چه هلته تقریباً هر شی په اخستلو او خرڅولو کې جګړه کیږی. ښوونکی دې یه دې باره کې شاګردانو ته نورمعلومات هم ورکړی.

## New Vocabulary
## نوی لغات

په دې برخه کې هم هغه لغات، اصطلاحات او عبارات راغلی چه زده کوونکی په همدې فصل کې نوی ورسره بلد شوی دی.

## Section 6: Diversions
## اومه برخه: تفریح

دا اصلاً یوه پخوانی لطیفه ده او مطلب یې دادی چه کله کله ساده خلك هم ډېرې ښې او پخې خبرې کوی.

## Workbook Exercises

Exercise T1.

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ا) | ۱ | ۲ | ٤ | ٥ | ٦ | ٧ | ٨ | ٩ | |
| ب) | ۱۰۰۰ | ۲۰۰۰ | ٤۰۰۰ | ٥۰۰۰ | ٦۰۰۰ | ٧۰۰۰ | | | |
| پ) | ٥٨ | ٥٩ | ٦۱ | ٦۲ | ٦۳ | ٦٤ | ٦٥ | ٦٦ | ٦٧ |
| ت) | ٥٦٦ | ٥٦٧ | ٥٦٩ | ٥٧۰ | ٥٧۱ | ٥٧۲ | ٥٧۳ | ٥٧٤ | |
| ټ) | ۱۰۰ | ۲۰۰ | ۳۰۰ | ٤۰۰ | ٦۰۰ | ٧۰۰ | ٨۰۰ | | |
| ث) | ۱۲٥۰ | ۱۲٥۰ | ۱٤٥۰ | ۱٥٥۰ | ۱٧٥۰ | ۱٨٥۰ | ۱۹٥۰ | | |
| ج) | ٧٨٤ | ٧٨٥ | ٧٨٦ | ٧٨٧ | ٧٨۹ | ٧۹۰ | ٧۹۱ | ٧۹۲ | |
| چ) | ٧٤ | ٧٥ | ٧٦ | ٧٧ | ٧٨ | ٨۰ | ٨۱ | ٨۲ | ٨۳ |

Exercise T2.

۱. موټر مې په پنځوس زره افغانۍ ر خسته.
۲. پتنګ اسد ته دوه سوه افغانۍ ورکړې.
۳. ددې اس قیمت شل زره افغانۍ دی.
٤. کمیس مې په درې نیم سوه افغانۍ وخسته.
٥. خر یې دوولس نیم زره بیه کړی دی.
٦. دا پسه به په نه سوه درکړم.
۷. ددې سالو قیمت دوه نیم زره دی.
۸. څوکۍ یې په یونیم زر واخسته.
۹. دا بایسکل په اته زره ورکوی؟
۱۰. تاته به یې په دوه نیم سوه هم درکړم.

Exercise T3.

| | | | |
|---|---|---|---|
| ا) | ٥٣٦٧ | ث) | ٦٢١ |
| ب) | ٤٠٧ | ج) | ٩٠٦ |
| پ) | ١٦٢٢٩ | چ) | ٣٢٨٠ |
| ت) | ٨٦٥ | ح) | ٨٢٥٤ |
| ټ) | ٧٦٨ | خ) | ١٠٧٧٨ |

Exercise T4.

۱. دا قالینه په څو ورکوې؟
۲. په دوه نیم زره یې ورکوې؟
۳. پنځه زره بیخی ډېرې دی.
٤. قیمته نه ده.
٥. په دوه زره یې که راکوی، آ یې خلم.
٦. د هغه کتاب قیمت څو دی؟
۷. یو څه نورې به هم کمې کړم.
۸. لس زره څه شی دی، بیخی کمې دی.
۹. په اته نیم زره یې هم نشم درکولی.
۱۰. له دوه زره او اوه سوه نه یوه پیسه هم زیاته نه درکوم.

# Unit 12: ملا يې ژوبله ده

## Section 1: Dialogue
## لومړۍ برخه: ديالوګ

ښوونکى دې د ديالوګ د تدريس په برخه کې له هغو لارښوونو نه استفاده وکړي چه په لومړيو څو فصلونو کې شوى دي.

### New Vocabulary
### نوى لغات

په دې برخه کې هغه لغات، اصطلاحات او عبارات راغلى دي چه شاګردان په دې فصل کې نوى ورسره اشنا کېږي.

### Practice
### تمرين

ښوونکى دې له شاګردانو نه وغواړي چه دا برخه په صنف کې خپله د تمرين له هدايتونو سره سم عملى کړي.

## Section 2: Where Does It Hurt?
## دويمه برخه: کوم ځاى دې خوږيږي؟

په دې برخه کې د بدن د بېلو بېلو برخو نومونه او ځينې افعال راغلى چه د خوږ يا درد د بيان دپاره استعمالېږي.

### Practice
### تمرين

ښوونکى دې له شاګردانو نه وغواړي چه دا تمرين له هغه هدايت سره سم عملى کړي چه خپله په تمرين کې ور کړل شويدي.

## Section 3: Past Imperfective of 'be'
## دریمه برخه: د «یم» د فعل اشکال

په دې برخه کې د «یم» د تېرې زمانې تول ناتمام اشکال ثبت شوی دی. ښوونکی دې یې شاگردانو ته په مثالونو کې توضیح کړی.

### Practice
### تمرين

ښوونکی دې له شاگردانو نه وغواړی چه دا تمرين له هغه هدايت سره سم عملی کړی چه په همدې برخه کې ور کړل شوی دی.

## Section 4: The Past Tense Forms of Verbs
## څلورمه برخه: دفعل ماضی اشکال

ښوونکی دې دا لاندې ټکی په مثالونو شاگردانو ته توضیح کړی.

۱ـ د ساده افعالو ماضی شکل داسې جوړیږی چ د «ل»//  لاحقه د حال زمانې په ساقه ور علاوه کیږی. ددغو افعالو تمام شکل د «و» د ساقې په علاوه کېدو جوړیږی.

۲ـ ډیر ساده افعال بې قاعدې دی او ماضی شکل یې له حال شکل سره توپیر لری.

### Past Tense Forms: Derivative Verbs
### ماضی اشکال: اشتقاقی افعال

ښوونکی دې دا لاندې ټکی په مثالونو شاگردانو ته توضیح کړی.

۱ـ د لازمی اشتقاقی افعالو تمام ماضی شکل داسې جوړیږ ی چه د حال زمانې (ك) ږ[(k) eg په [(ك) ېد][(k)ed] بدلیږی او د تیرې زمانې لاحقه «ل» /al/ پرې علاوه کیږی.

۲ـ د لازمی اشتقاقی افعالو تمام ماضی شکل داسې جوړیږی چه د حال زمانې «شـ» /s/ په «شو» /sw-/ بدلیږی.

۳ـ د متعدی اشتقاقی افعالو ناتمام ماضی شکل داسې جوړیږی
چه د حال زمانې له ناتمام شکل (ك) و [kaw] سره «ل»[al]
یوځای کېږی.
٤ـ د متعدی اشتقاقی افعالو ماضی تمام شکل داسې جوړیږی چه
د حال زمانې تمام شکل «کړ» [k-] په «کړل» [kṛəl] بدلېږی.

## Practice
تمرین

دا تمرین دې له هدایت سره سم عملی کړی شی.

## Past Tense Forms: Doubly Irregular Verbs
ماضی اشکال: دوه اړخیزه بې قاعدې افعال

ښوونکی دې زده کوونکی دې ته متوجه کړی چه د دوه اړخیزه
بې قاعدې افعالو ماضی اشکال ټول بې قاعدې دی او باید چه
حفظ کړی شی.

## Past Tense Forms: Verbs ending in [-eg]
ماضی اشکال: هغه افعال چه په «ېږ» ختمیږی

کوم افعال چه حال شکل یې په «ېږ» past [eg] پای ته رسیږی، د
هغوی ټول ماضی اشکال داسې جوړیږی چه «ږ» [eg] په «د» [d] بدلیږی.

## Practice
تمرین

دا تمرین دې له هدایت سره سم عملی کړی شی.

## Section 5: Reading
## پنځمه برخه: قرائت

ددې برخې مطلب د شاګردانو د قرائت تقویه ده. دغه راز دا برخه له زده کوونکو سره په دې کې هم مرسته کوی چه د لیکل شوی عبارت په مفهوم بهتر و پوهیږی. په عین وخت کې دا برخه زده کوونکی په پښتنو کې د میلمه پالنې له دود او دستور سره تر یوه حده اشنا کوی. که ضرورت وی ښوونکی شاګردانو ته په دې باره کې څه نور معلومات هم ور کولی او یا لږ تر لږه په دې ارتباط د هغوی سوالونو ته ځوابونه ویلی شی.

## New Vocabulary
## نوی لغات

پدې برخه کې هغه لغات، اصطلاحات او عبارات راغلی چه شاګردان نوی ور سره مخامخ کیږی.

## Have You Understood?
## امتحان

دا برخه اصلاً یو کوچنی امتحان او له هغه هدایت سره دې سم واخستل شي چه په دې برخه کې ورکړل شوی دی.

## Section 6: Diversions
## شپږمه برخه: تفریح

په دې برخه کې یو متل راغلی او یوه لندۍ. دا دواړه له روغی او ناروغی سره یو ډول ارتباط لری.
ښوونکی د لزوم په صورت کې په دې ارتباط نور مطالب هم شاګردانو ته ویلی شی.

# Workbook Exercises

Exercise T1.

۱. ليلا وايي چه د اسد سر خوږيږي.
۲. رابيا بېګا خپل لاس سوځولی دی.
۳. احمد خپله ملا ژوبله کړې ده.
٤. امان بازار ته تللی و، پښې يې خوږيږي.
۵. غلځی صاحب په مېلمستيا کې شراب څکلي دي، سر يې خوږيږي.
٦. احمد د تور سر مات کړی دی.
۷. اسد وايي چه د احمد د لور غاښ خوږيږي.
۸. د ليلا زنګون په مېز ولګېده، ډېر سخت خوږيږي.
۹. اسد سلا ته کوله، خپله ګوته يې پرې کړه.
۱۰. نجيب وايي که د چا سر خوږيږي، نو مستې دې وخوري.

Exercise T2.

۱. احمد يو اس اخستلی دی. قيمت يې شل زره افغانۍ دی.
۲. تور يوه راډيو اخستلې ده. قيمت يې اته زره افغانۍ دی.
۳. محمود يو بايسکل اخستلی دی. قيمت يې دېرش زره افغانۍ دی.
٤. ليلا يو کيلو پسته اخستلې ده. قيمت يې يو نيم زر افغانۍ دی.
۵. پلار مې يو پسه اخستلی دی. قيمت يې پنځلس زره افغانۍ دی.
٦. زما امريکايي ملګرې يوه ښايسته پوستينچه اخستلې ده. قيمت يې اته ويشت زره افغانۍ دی.
۷. نره مې يو خر اخستلی دی. قيمت يې پنځه دېرش زره افغانۍ دی.
۸. خور مې درې ډوډۍ اخستلې دي. قيمت يې څلېرويشت افغانۍ دی.
۹. داسد ورور يو شين سالو اخستلی دی. قيمت يې درې زره افغانۍ دی.
۱۰. ورور مې ګلان اخستلي دي. قيمت يې پنځوس افغانۍ دی.

Exercise T3.

۱. اصلی
۲. اعلی
۳. اکثره
٤. انتظار
٥. اوبه
٦. اورېږی
۷. اوړی
۸. اوږد
۹. اوس
۱۰. اوسېدونکی
۱۱. اوسېږی
۱۲. اوه ویشت
۱۳. بعضې
۱٤. پنجشنبې
۱٥. جمعه
۱٦. خط
۱۷. دوولس
۱۸. رخصتی

# Unit 13: په بازار کې دې څه کول؟

## Section 1: Dialogue
لومړی برخه : دیالوګ

ښوونکی دې ددې برخې په تدریس کې له هغو لارښوونو نه استفاده وکړی چه په لومړیو درسونو کې شوی دی.

### New Vocabulary
نوی لغات

پدې برخه کې هغه لغات، راغلی دی چه زده کوونکی په همدې درس کې ورسره اشنا کېږی.

### Practice
تمرین

ښوونکی دې له شاګردانو نه و غواړی چه دا تمرین له هغه هدایت سره سم عملی کړی چه خپله په همدې برخه کې ور کړل شوی دی.

## Section 2: The Pashto Past Perfective Tense
دویمه برخه: په پښتو کې د ماضی یا تېرې زمانې تمام شکل

### Intransitive Verbs
لازمی افعال

ددې برخې مطلب د افعالو د تېرې زمانې د «تمامو» اشکالو او فعلی خاتمو تدریس دی.

په دې برخه کې دا لاندې ټکی د زده کوونکو د توجه ور دی:

۱ـ په تېره زمانه کې د پښتو فعل «تمام» شکل داسې جوړېږی چه د تېرې زمانې لاحقه (suffix) «ل» [əl] د فعل د تېرې زمانې

له ساقې (stem) سره يو ځاى کېږى. لکه دا چه
ليلى وګډېدله.

٢ـ کله چه فعل د متکلم او مخاطب شخص دپاره تصريف شى
خاتمې يې په تېره او حال زمانه کې سره يو شى وى. لکه په
دې لاندې جملو کې:

زه خم
زه تلم
ته خې
ته تلې

خو کله چه فعل د غايب شخص دپاره تصريف شى هلته بيا د
فعل د تېرې زمانې د حال زمانې له خاتمو سره يو څه توپير
لرى. لکه په دا لاندې جملو کې

تور خى رابيا راخى
تور ته رابيا راتلله

٣ـ کله چه فعل په تېره زمانه کې د مذکر غايب شخص دپاره
تصريف شى هغه «ل» [əl] چه موږ د تېرې زمانې د لاحقې
په نامه ياد کړ له کلمې نه هرومرو ساقطيږى. لکه په لاندې جملو کې:
تور ګډېده.

٤ـ په تېره زمانه کې لازمى فعل د فاعل دپاره تصريف کيږى
او يا په بل عبارت فعلى خاتمې له فاعل سره مطابقت لرى لکه په
لاندې جملو کې:

نجلۍ ګډېدله
نجونې ګډېدلې
هلك ګډېده

## Practice
## تمرين

ددې تمرين مطلب د لازمي فعل له خصوصياتو سره د شاګردانو زياتره اشنا کول دی او بايد چه د تمـرين لـه هـدايت سره سم عملی شی.

## Transitive Verbs
## متعدی افعال

پنځې برخه کې دا لاندې ټکی د زده کوونکو د توجه وړ دی.

١ـ د متعدی افعالو د تيرې زمانې «تمام» شکل داسې جوړيږی لکه د لازمی فعل تمام شکل چه جوړيږی.

٢ـ په تيره زمانه کې متعدی فعل د مفعول دپاره تصريف کيږی يا په بل عبارت فعلی خاتمې له مفعول سره مطابقت لری. لکه په دا لاندې جملو کې:

سليم اس بوتـه.

سليم اسپه بوتلله.

سليم اسپې بوتللې.

## Practice
## تمرين

ددې تمرين مطلب، د متعدی افعالو له خصوصياتو سره د شاګردانو زياتره بلدول دی او بايد له هدايت سره سم عملی شی.

## Section 3: Using the Past Tense
## دريمه برخه: د تيرې زمانې استعمال

ښوونکی دې د زده کوونکو توجه دې لاندې ټکو ته ور واړوی.

١ـ د پښتو سره «تمامه» زمانه (past perfective) د انګريزی ژبې

له تېرې زمانې تېر يو شی دی.

۲ـ څرنګه چه دمخه وويل شول په تېره زمانه کې متعدی افعال له مفعول سره مطابقت لری.

۳ـ په تېره زمانه کې فاعل په غير اصلی حالت (oblique case) کې واقع کېږی.

٤ـ په تېره زمانه کې ضعيف فعولی ضميرونه له جملې نه ساقطيږی.
مثلاً:
سليم وواهه.
په پورته جمله کې د «يې» [ye] ضمير له جملې نه بيخی لويدلی دی.

٥ـ په تېره زمانه کې ضعيف فاعلی ضميرونه هيڅکله هم نه ساقطېږی
مثلاً: سليم يې وواهه.
په پورته جمله کې سليم فاعل دی او بايد هرومرو په جمله کې موجود وی.

## Practice
## تمرين

ددې تمرين مطلب په جمله کې د فاعل او معفعول له خصوصياتو سره د شاګردانو زياتره بلدول دی او بايد خپله د همدې برخې له هدايتونو سره سم عملی شی.

## Section 4: Reading
## څلورمه برخه: قرائت

ددې برخې اصلی مطلب د شاګردانو د لوستلو، قرائت او پوهيدلو د مهارتونو زياتره تقويه کول دی. خو په عين زمان کې زده کوونکی له دې سرهم تر يوه حده اشنا کېږی چه پښتانه څه وخت، چېرې څنګه جامې اغوندی.

## New Vocabulary
## نوی لغات

پدې برخه کې هغه کلمات، اصطلاحات او فقرې راغلی دی چه شاګردان په همدې درس کې ور سره بلد شوی دی.

## Have You Understood?
## امتحان

دا برخه اساساً یو کوچنی امتحان دی او مطلب یې بیا هم د شاګردانو د لوستلو او پوهیدلو د مهارتونو زیاتره تقویه کول دی.

## Section 5: Time Phrases
## پنځمه برخه: د وخت فقرې

پدې برخه کې د وختونو نومونه او هغه فقرې راغلی چه په یوه معین مهال دلالت کوی. ښوونکی دې کوشش وکړی چه شاګردان پوره پرې وپوهوی.

## Practice
## تمرین

ددې تمرین مطلب هم د شاګردانو د لوستلو او پوهیدلو دمهارتونو تقویه ده او له هدایت سره سم دې عملی شی.

## Section 6: Diversions
## شپږمه برخه: تفریح

دا لنډه کیسه چه پدې برخه کې راغلې ملانصرالدین ته منسوبه ده. په افغانستان، ایران، ترکیه او پاکستان کې دغه راز ډېرې کیسې ملانصرالدین ته منسوبې دی. دا کیسې اکثره داسې دی چه په ظاهره کې د ملانصرالدین سادګی ښیی. مګر په واقعیت

کې ډېر خله يو ډول هوښياري هم پکښې پرته ده.
ښوونکی دې شاګردانو ته ووايي چه دا کيسې خلك معمولاً،
په داسې وخت کې کوی چه يو مطلب ښه تمثيل کړی. که وخت
وی ښوونکی دې شاګردانو ته دا مطلب د مثال په واسطه
تمثيل کړی او د ملا نصرالدين يوه يا دوه کيسې دې ورته وکړی
او يا دې ورته ووايي چه دغه کيسې خلك په کوم وخت او قرينه
کې استعمالوی.

## Workbook Exercises

Exercise T1.

۱. و يې ليدلم.
۲. نن سهار مې اخبار ولوسته.
۳. و دې څکله؟
٤. په مېلمستيا کې مو وليدله.
٥. خپله مور يې راوستله؟
٦. و دې خوړله.
۷. کابل ته مو ولېږله.
۸. معاينه يې کړلو.
۹. کور ته مې بوته.
۱۰. و مې خوړله .

Exercise T2.

۱. مېلمنو ته يې قابلی پاخه کړ.
۲. يو نوی موټر يې اخسته.
۳. چای يې څکه.
٤. ډوډی مې خوړله.
٥. نور يې شفاخانې ته بيوله.
٦. کتاب دې لوسته.
۷. پلو مې پوخ کړ.
۸. ليلی ليدلې؟

۹. خپلي مور ته يي ډېر خطونه ليږي.
۱۰. اخبار يي اخسته.

Exercise T3.

۱. په کتابخاني کي مو وليده.
۲. په رستوران کي يي خوړله.
۳. نه يي اخلی.
٤. مکتب ته نه دي تللی.
٥. اس يي په زر افغانۍ واخسته.
٦. له پوهنتون نه نه دی راغلی.
۷. اسد پرون له خان سره بوته.
۸. اخبار يي په کتابخاني کي ولوسته.
۹. اس يي له سليم نه واخسته.
۱۰. کتاب مي ترجمه کړ.

Exercise T4.

۱. پتنګ ډېرد ښه دريشی واښستله.
۲. د اسد بوټونه تور دی.
۳. امان کندهاری واسکټ اغوستی ؤ.
٤. لمن دي غوړه شوي ده.
٥. دليلی تېکری باد يووړ.
٦. اسد خان ته ځمکنۍ پنې واخستي.
۷. کوټ مي په مېز ايښی دی.
۸. موزي مي په بازار کي رنګ کړي.
۹. اسد زری څپلۍ اغوستي دی.
۱۰. د امان ورېښمين پټکی خوښېږی.

# Unit 14: په کار پسې ګرځېدلم

## Section 1: Dialogue
## لومړی برخه : دیالوګ

ښوونکی دې د دیالوګ د تدریس په برخه کې له هغو لارښودنو نه استفاده وکړی چه په لومړیو څو فصلونو کې شوی دی.

### New Vocabulary
### نوی لغات

پدې برخه کې هغه کلمات او عبارات درج شوی چه شاګردان په همدې دیالوګ کې ورسره بلدېږی.

## Section 2: The Past Imperfect Tense
## دوهمه برخه: په تېره زمانه کې د فعل «ناتمام» شکل

پدې برخه کې لومړی د افعالو د تېرې زمانې ناتمام اشکال راغلی او بیا توضیح شوی دی.

ښوونکی دې شاګردانو ته دا لاندې ټکی په ګوته کړی.

١ــ د فعل نا تمام شکل د انګلیسی ژبی له (progressive) شکل سره د مفهوم په لحاظ یو شی دی.

٢ــ د تېرې زمانې ناتمام شکل داسی جوړېږی چه د تېرې زمانې فعلی خاتمې د فعل د تېرې زمانې له نا تمامې ساقې (stem) سره یو ځای کېږی.

٣ــ له فاعل او مفعول سره د فعل مطابقت او د ضعیفو ضمیرونو ساقطېدل او د بې قاعدې افعالو خصوصیات د اسې دی لکه د تېرې زمانې د تمامو اشکالو چه دی.

## Section 3: The Pashto Infinitive
## دريمه برخه: پښتو مصدر

پدې برخه کې د کلمې په هغه شکل بحث شوی چه په عنعنوی ګرامرونو کې د پښتو مصدر بلل شوی دی لکه وهل، ترل او نور.ښوونکی دې شاګردانو ته ووايي چه دا کلمه د انګريزی gerund د په شان يوه کلمه ده او داسې جوړېږي چه «ل» [əl] د تېرې زمانې په ساقه ورعلاوه کېږی. مثلاً: ګډېدل، خوځول او نور مصدر د فعل له اصلي ريښې نه جوړشوی اسم دی. او په صرفی لحاظ ورته کتل کېږی. دا مطلب په لاندې مثالونو کې توضيح شوی دی.

ګډېدل اسانه دی.

سوالونه اسانه دی.

په عنعنوی ګرامرونو کې داسې فکر هم شوی چه ګونډې د فعل ټول اشکال له مصدر نه راوزی. مګر دا فکر درست نه دی. ځکه «ځم» د شکل په لحاظ له «تلل» سره هيڅ مشابهت نه لری. په قاموسونو کې افعال د مصدر په شکل ليکل شوی دی. لکه دريدل، خطا کول او نور.

## Section 4: Reading
## څلورمه برخه: قرائت

ددې برخې مطلب د شاګردانو د لوستلو او پوهېدلو.د مهارتونو زياتره قوی کول دی. دغه راز پدې برخه کې کوشش شوی چه شاګردان د افغانی جنتری له څرنګوالی او د مياشتو له هغو نومونو سره بلد کړی شی چه په افغانستان کې استعمالېږی.

### New Vocabulary
### نوی لغات

دلته ټول هغه لغات او عبارات راغلی چه د قرائت په برخه کې شاګردان نوی ورسره مخامخ شوی دی.

## Section 5: The Afghan Calendar

## پنځمه برخه: افغاني جنتري

پدې برخه کې شاګردانو ته د کال د میاشتو عربي او پښتو نومونه ورکړل شوي او افغاني او عربي جنتري ورته توضیح شویدي. ښوونکی کولی شي په دې باره کې نور ضروري معلومات هم شاګردانو ته ورکړي. په عین وخت کې دې ښوونکی، د امکان په صورت کې، مختلفې افغاني جنترۍ له ځان سره صنف ته یوسي او د توضیحاتو په برخه کې دې استفاده ترې وکړي.

## Section 6: Diversions

## شپږمه برخه: تفریح

ددې لنډې کیسې مطلب هم د شاګردانو د لوستلو او پوهېدلو د مهارت زیاتول دي، او همدې لوستل شاګردانو ته یو څه د خوش طبعي زمینه برابروي.

## Workbook Exercises

Exercise T1.

۱. د اسد ورور د اسد په څلیروېشتم کابل ته لاړ.
۲. د ثور په پنځمه يې څه کوله؟
۳. د اسد پلار د عقرب په لسم غنم کرل.
۴. د جوزا تر دیارلسمه دلته وم.
۵. د حوت په شلم هوا توده شوه.
۶. د لیلا او اسد مور د سرطان په دوولسم راغله.
۷. د ثور په نهم پېښور ته تلم.
۸. د امان ملګری د سنبلې په پنځه ویشتم واده کوی.
۹. د حمل په اوله خلکو میلې کولې.
۱۰. د میزان په شپږویشتم يې ټېلیفون را ته وکړ.

Exercise T2.

۱. د حمل په اوه ویشتم دې څه کول؟
۲. د حمل پ شپږم کابل ته تلم.
۳. مکتب د حوت په دېرشم شروع شو.
۴. د رابیا تره د جوزا په اوه لسم راغی.
۵. امان د میزان په دوه ویشتم کور ته ته.
٦. میله د حمل په دیارلسم شروع شوه.
۷. د عقرب په یوولسم چېرې وی؟
۸. د قوس په نولسم هوا سړه شوه.
۹. لیلا د جدی په شپږویشتم را ورسېده.
۱۰. د سرطان په یوولسم چېرې تله؟

Exercise T3.

د اسد پلار د سنبلې په پنځم ده نو ته لاړ چه خپل تربره ته یو پسه واخلی. د سنبلې په ا م له ده نو نه زرغون ښار ته لاړه. له زرغون ښار نه د سنبلې په شلم وخوځېده. د سنبلې په یوویشتم بورگ ته ورسېده. په بورگ کې یې شپه تېره کړه. د سنبلې په اته ویشتم له بورگ نه بېرته سرخاو ته لاړه. په سرخاو کې یې دوه شپې د خپلو دوستانو کره تېرې کړې. د سنبلې په دېرشم زرغون ښار ته لاړه. د میزان په دویم بېرته خپل کورته لاړه.

Appendix 16

END

U.S. Dept. of Education

Office of Education
Research and
Improvement (OERI)

ERIC

Date Filmed

March 21,1991